د افغانستان اسلامي امارت

د پوهنې وزارت

د لوګر ولایت د پوهنې ریاست

دکېفیت تضمین آمریت




# د لوګر ولایت پوهنې ریاست د عملیاتي پلان د پرمختګ

# کلنی تشریحي راپور

د راپور ورکولو دوره: د ۱۴۰۳ مالي کال د حمل څخه تر حوت

# د مطالبو نوملړ


د ۱۴۰۳ کال کلنی تشریحي راپور چمتو کوونکو نوملړ ........ 1

دلوگر ولایت په هکله عمومي معلومات: ........ 2

د کړنو لنډیز........ 4

د پوهنې د درې گونو عرصو پر بنسټ د عملیاتي پلان د کړنو پرمختگ........ 7

لومړی برخه: کیفیت او تړاو........ 7

۱. پروګرام: ښوونه او روزنه ........ 7

۲. اسلامي زده کړې........ 8

۳. د کیفیت تضمین........ 9

۴. سرچینې او اداره ........ 9

۵. د پوهنې ریاست اړوند فعالیتونه (نشرات، تفتیش، مخابره، پلان او نور) ........ 12

دویمه برخه: انډولیز لاسرسی........ 13

۱. ښوونه او روزنه ........ 13

۲. اسلامي زده کړې........ 16

۳. د کیفیت تضمین........ 17

۴. سرچینې او اداره ........ 17

۵. د پوهنې ریاست اړوند فعالیتونه (نشرات، تفتیش، مخابره، پلان او نور) ........ 18

۳ برخه: آغېزمن، روڼ او ځواب ویونکی مدیریت ........ 18

۱. ښوونه او روزنه ........ 18

۲. اسلامي زده کړې........ 20

۳. د کیفیت تضمین........ 21

۴. سرچینې او اداره ........ 21

۵. د پوهنې ریاست اړوند فعالیتونه (نشرات، تفتیش، مخابره، پلان او نور) ........ 22

د غیر پلاني فعالیتونو او لاسته راوړنو برخه ........ 25

تحلیل او پایلې........ 26

د پام وړ ستونزې او وړاندیز شوې حل لارې........ 55

مالي رپوټ تحلیل........ 56

ملپاڼې ........ 57

## د ۱۴۰۳ مالي کال کلني تشریحي راپور د چمتو کوونکو نوملړ

| نوم او کورنی نوم | دنده | برېښنا لیک | گرځنده شمېره/واتساپ | لاسلیک |
|---|---|---|---|---|
| محمد عیسي «مخلص» | د کیفیت تضمین آمر | نه لري | ۰۷۷۸۷۱۹۱۹۹ | |
| مولوی عبیدالله ((هشام)) | د اداري او سرچینې آمر | نه لري | ۰۷۷۹۵۳۷۶۴۵ | |
| مولوي عبدالمومین «صدیقي» | اسلامي زده کړې آمر | نه لري | ۰۷۷۵۵۴۲۲۱۱ | |
| شهیدالله «اخندزاده» | د ښوونکو روزنې او عمومي زده کړو آمر | نه لري | ۰۷۶۵۸۹۰۱۸۱ | |
| ذبیح الله «قریشي» | د څارنې او ارزونې مدیر | نه لري | ۰۷۶۴۷۲۵۲۱۲<br>۰۷۹۴۶۴۱۶۱۲ | |
| محمد نقیب ((مومند)) | د راپورنو د تحلیل او توحید مدیر | Mohammadnaqib momand@gmail.com | ۰۷۷۰۸۰۱۴۱۴ | |

## د پوهنې د رئیس تاییدي:

| نوم او تخلص | دنده | برېښنالیک | گرځنده شمېر/واتساپ | لاسلیک |
|---|---|---|---|---|
| الحاج مولوي عبدالرحمن «حمیدي» | د لوګر پوهنې رئیس | نه لري | ۰۷۸۵۰۴۶۹۹۹ | |

## دلوگر ولایت په هکله عمومي معلومات:

لوگر ولایت د افغانستان د۳۴ ولایتونو له ډلې څخه په جنوبي زون کې پروت یو مهم مرکزي ولایت دی.




د دې ولایت مرکز د پل علم ښار دی چې۳۸۸۰ کیلو متره مربع مساحت لري او د مرکزي احصایې د اټکل له مخې یې د وګړو شمېر په ۱۳۹۹ لمریز کال کې ۵۰۰۰۰۰ تنه ښودل شویدي.

ډیری و ګړي یې په پښتو ژبه خبرې کوي او یو شمیرېې دري وایي او ډیرې قبلې پکې شتون لري.

نوموړی ولایت د کابل ښار په ٦۴ کیلو متری کې موقعت لري.

لوګر ولایت د مرکز په شمول ۷ ولسوالۍ لري چې په لاندې توګه ور څخه یادونه کوو ۱- پل علم (مرکز) ۲- محمدآغه ولسوالۍ ۳- برکي برک ولسوالۍ ۴- خروار ولسوالۍ ۵- ازره ولسوالۍ ٦- خوښۍ ولسوالۍ ۷- چرخ ولسوالۍ.

ښوونې او روزنې ته د یاد ولایت د وګړو لاس رسی د پخوا په پرتله ښه شوی دی لوګر ولایت ۳۱۸ بابه دولتي او خصوصي ښوونیز او روزنیز مرکزونه چې له دې جملې څخه ۳۱ بابه خصوصي عمومي زده کړو مرکزونه او ۲۸۷ بابه دولتي عمومي زده کړو مرکزونه دي چې په ټوله کې ۹۷ بابه لیسې ۸۰ بابه منځنۍ ښوونځي او ۱۴۱ بابه لومړني ښوونځي پکې شتون لري.

د اسلامي زده کړو په برخه کې ۲۴۸ بابه مدرسې، ۷ بابه دارالحفاظونه او ۳ بابه دارالعلومونه شتون لري.

ددې ولایت د مرکز په شمول په ۵ ولسوالیو کې لکه محمداغه، برکي برک، خوښۍ، څرخ او ازرې ولسوالیو کې ټولټال ۷۱ بابه لیک لوست زده کړو دولتي کورسونه فعال دي چې په یادو مرکزونو کې ۱۲۳۸تنه نارینه او ښځینه زده کوونکي په زده کړو بوخت دي.

د دې ولایت په مرکز، کلیو، بانډو او لرې پرتو سیمو کې د اوسیدونکو د ژوند او زده کړې کچه سره توپیر لري چې ٦۵ سلنه وګړي په مرکز (ښاري) سیمو او ۳۵ سلنه خلک په کلیوالي سیمو کې د زده کړې له نعمت څخه برخمن دي دغه راز دا ولایت یو دولتي پوهنتون لري چې (د ښوونې او روزنې، زراعت او شرعیاتو) پوهنځي پکې فعال دي او یو خصوصي انستیتوت په نامه د (میلاد نبي خصوصي طبي زده کړو انستیتوت) هم په فعالیت بوخت دی.

## سریزه

بسم الله الرحمن الرحیم

الحمدالله رب العلمین و الصلاة و السلام علی سید المرسلین و علی آله و اصحابه اجمعین. اما بعد:

عملیاتي پلان کړنو پرمختګ راپور د دريې ګونو عرصو ۱- د کیفیت او تړاو، ۲- زده کړوته انډولیز لاسرسی، ۳-روڼ اغیزمن او ځواب ورکوونکي مدیریت پربنسټ چې له بیلابیلو برخو څخه کړنو لنډیز، پرمختګ په تشریحي بڼه، مالي او د مل پاټو څخه جوړ شوی دی چې د هرې عرصې په برخه کې هغه شمیر اړوند شاخصونه او فعالیتونه ځای پرځای شوي دي چې د پوهنې په اداره کې په ورځنۍ، میاشتنۍ، ربعوار او کلني توګه ترسره کیږي.

د پوهنې وزارت عملیاتي پلان کړنو پرمختګ په ټولو ولایتونو کې په انډولیز منظم او منسجم ډول سره د یو اساس په توګه شتون لري او د کړنو پرمختګ شاخصونه یې په میاشتني ډول د (EMIS) ډیټابیس چې یو بشپړ او هر اړخیز سیستم دی پر ولسوالۍ وار بڼه سره انټري او درج کیږي چې په ترڅ کې په میاشتني، ربعوار او کلني بڼه سره را پورونه ترې اخستل کیږي او تشریحي را پورونه یې د پوهنې ریاست مقام، ولایت مقام، پوهنې وزارت او ډونرانو ته د ترسره شویو مرستو څخه د ډاډ ترلاسه کیدو او په راتلونکې کې د پوهنې په برخه کې د نویو پلانونو په جوړولو کې کارول کیږي.

د عملیاتي پلان د کړنو پر مختګ راپور په وسیله کولای شو چې په آسانۍ سره په لنډ وخت کې د ولایت په کچه د پوهنې ریاست د تر سره شویو کړنو او احصایوي معلوماتوته لاسرسی ولرو او خپل ترسره شوي کارونه پکې منعکس کړو.

د لوګر ولایت د پوهنې ریاست د ۱۴۰۳ کال عملیاتي پلان د کړنو د پرمختګ کلنی راپور د پوهنې دريې ګونو عرصو په بنسټ چمتو شوی چې د لاندې برخو لرونکی دی د اعتبار وړ دی.

لومړۍ برخه: دکړنو لنډیز

دویمه برخه: د راپور تفصیلي برخه

دریمه برخه: د پلان څخه بهر فعالیتونو برخه

څلورمه برخه: پایلو او تحلیل برخه

پنځمه برخه: ستونزو برخه

شپږمه برخه: مالي راپور

اوومه برخه: ملپاڼې

## لومړی برخه

### د کړنو لنډیز

### ۱. کیفیت او تړاو

#### ۱. ښوونه او روزنه

- د ۱۵۰ بابه لابراتوارونو او۳۲ بابه کمپیوتر لیبونو څخه په برکي برک،خرخ،خوښی،محمداغه ولسوالیو او مرکز اړوند ښوونځیو سروې او لیدنه شوې ده.
- له ۹۹۰ ښوونکو له جملې څخه د کیمیا، بیولوژي، فزیک، ریاضي او محیطي ساینس په رشتو کې د چرخ او خوښی ولسوالیو کې ۲۱۶ تنه استادانو ته سمینار دایر شوی دی.
- د ښار پوهنې آمریت، برکي برک، خرخ او محمد آغې ولسوالیو پوهنې آمریتونو کې د حمل، ثور او جوزا میاشتو کې ۱۴۶سواد کمیټې غونډې تر سره شوي دي.

#### ۲. اسلامي زده کړې

- د ولسوالیو پوهنې آمریتونو اړوند د نویو گمارل شویو کارکوونکو لپاره د ظرفیت لوړولو په موخه د لاربښوونې سیمینارونه دایر شوي دي.

#### ۳. کیفیت تضمین

- د مرکز په شمول برکي برک، محمد آغه، خرخ او خوښی ولسوالیو کې د احصاییوی ارقامو د را ټولولو په موخه د ظرفیت لوړونې ورکشاپونه تر سره شوي دي.
- د ۱۴۰۲ کال احصائیه په چاپي بڼه چاپ او گټه احیستنې ته وړاندې شوې.
- د نتایجو او شهادتنامو ریاست له لورې ۱۶ لیسو ۳۸۷۵ دانې شهادتنامې په گروپي بڼه تائید شوې او ویشل شوي دي.
- د مرکز، برکي برک، محمدآغې، خوښی، خرخ او ازرې ولسوالیو کې د اسلامي زده کړو د مدرسو اداري مسؤلینو ته د تضمین کیفیت نظارت غړو له لورې د ظرفیت لوړونې سیمینارونه ورکړل شوي دي.

#### ۴. سرچینې او اداره

- د پوهنې وزارت مالي او حسابداري آمریت لخوا په جوزا میاشت کې دري ورځنی ورکشاپ د ۱۴۰۳ مالی کال د بودیجې د ترتیب په موخه په مرکز کې دایر شو.
- د لوگر ولایت په کچه د مدرسو او ښوونځیو د جایدادونو لپاره ۱۰ جریبه ځمکه ثبت شوې ده.

#### ۵. ریاست اړوند فعالیتونه

- د پوهنې وزارت له لورې د لوگر پوهنې ریاست ته ۲۴۰ گڼې اونیزنامې رالیرل شوي دي او اړوند پوهنې آمریتونو ته ویشیل شوي دي.
- د پوهنې وزارت له لورې لوگر پوهنې ریاست ۱۸۵۱۴ ټوکه کتابونه رارسیدلي چې د امام اعظم رحمه الله او محمدي دارالعلومونو ته ویشل شوي دي

## ۲. انډولیز لاسرسی

### ۱. ښوونه او روزنه

- د پوهنې ریاست اړوند عمومي ښوونځیو کې ۱۰۵۹۱ تنه نارینه او ۵۸۴۵ تنه ښځینه زده کوونکي نوي جذب شوي دي.
- د خروار پوهنې آمریت اړوند یو منځنی ښوونځی د خوشحال په نوم د لیسې دورې ته ارتقاء کړې ده.
- د ترافیک او اطفائیه ایجاد شوو شمیر په ۱۱۰ بابه ښوونځیو کې او د ځارندوی ایجادشوی ټیمونو شمېر ۳۰ رسیدلي دي.
- د لوګر پوهنې ریاست اړوند د سواد زده کړې په کورسونو کې ۱۳۷۵ تنه نالوستي کسان د سواد زده کړې نوي جذب شویدي.
- د مرکز په شمول د ولسوالیو ټولو پوهنې آمریتونو اړوند ۷۴ د سواد زده کړې کورسونه تأسیس شوي دي.

### ۲. اسلامي زده کړې

- د اسلامي زده کړو برنامې په حمل میاشت کې ۵۹ تنه جدیدالشمول طالب العلمانو څخه اختصاصي ازموینه واخیسته چې په پایله کې ۴۷۲ تنه جدید الشمول طالب العلمان په لومړنی (ابتدائیه) دوره کې جذب شول.

### ۴. سرچینې او اداره

- د سرچینو او اداري برنامې په سطحه نوي تشکیل شویو ښوونځیو ته کوډونه انتقال شوي.
- د پوهنې ریاست اړوند ۱۳ جریبه ځمکه د سرچینو او اداري برنامې په سطحه تدارک شوې ترڅو د مدرسو او ښوونځیو لپاره پکې تعمیرونه جوړ شي.
- د پوهنې ریاست اړوند سرچینو او اداري برنامې په سطحه د ۲۵بابه ښوونځیو دغصب شویو ځمکو دوسیې تعقیب شویدي، او د ۸ باب ښوونځیو د ملکیت دعوا حل او فصل شوې ده.
- دولایت په سطحه په ټولو ولسوالیو کې ۵۸ بابه ښوونځي او مدرسې د اسلامي امارت د بودیجې له طریقه ترمیم شوي دي.

## ۳. آغېزمن، روڼ او ځواب ویونکی مدیریت

### ۱. ښوونه او روزنه

- د ۱۴۷۵ بابه ښوونځیو، ۴۱۴ بابه سیمه ایيزو ټولګیو او ۷۱ باب د چټکو زده کړو ټولګې څخه حمایوي څارنه ترسره شوې ده.
- د ۲۳۵۹ تنه ښوونکو، ۱۱۳ تنه سرښوونکو، ۱۱۱ تنه مدیرانو او د سواد زده کړو ۴۹ تنو ښوونکو څخه څارنه ترسره شوې ده.
- د ښوونې او روزنې برنامې اړوند کارکوونکو له لورې په ۲۸ بابه ښوونځیو کې د مخدره موادو پر ضد د مبارزې تبلیغات ترسره شویدي.
- د سواد زده کړې برنامې څخه د مرستې او ملاتړ د جلب په موخه یوه ولایتي غونډه د ثور، جوزا او سنبلې په میاشت کې ترسره شوې او بله د ثور په میاشتې کې د چرخ او خوشي ولسوالیو کې د سواد د کمیټو غونډه دایر شوې ده.

### ۲. اسلامي زده کړې

- د اسلامي زده کړو برنامې په کچه ۱۵۱ تنه علماءکرام د خامسې درجې او ۹۰ تنه علماء کرام په عالیه درجه کې ارزول شوي دي.
- د لوګر ولایت په کچه د ۸۷۸ تنو ګډونوالو له جملې څخه د ۶۰۰ تنو څخه ازموینه واخیستل شوه او د ۱۲ او ۱۴ ټولګیو ار زول شویو ګډونوالو له جملې څخه ۲۶۸ تنوته شهادتنامې ویشل شوي دي.

•

• د ۲٦۵ قطعو شهادتنامو له جملې څخه ۱۴۷ قطعې شهادتنامې د حفظ، ۸۲ قطعې شهادتنامې د خامسې او ۳٦ قطعې شهادتنامې د عالمیه دورې فارغانو ته ویشل شویدي.

**۴. سرچینې او اداره**

- د پوهنې ریاست په کچه ۱۲۳۷ خالي بستونه د اداري او سرچینو برنامې له لارې د راجستریشن په سیستم کې په ډاګه شوي دي.
- د پوهنې ریاست په کچه ۲۳۸۰ تنه کار کوونکي د سرچینو او اداري برنامې لخوا ثبت او راجستر شوي دي.
- د پوهنې ریاست اړوند ۲۴۲۴ خالي بستونو د سرچینو او اداري برنامې له لورې د استخدام ریاست ته معلومات وړاندې شوي دي.
- د پوهنې ریاست په کچه ۱۹۱۳ تنه اداري کارکوونکي، ښوونکي او استادان د بشري سرچینو له لورې په دندو ګمارل شوي دي.
- ۱۲۸ تنه ښځینه او نارینه ښوونکي او کارکوونکي د لوګر ولایت په کچه تقاعد ته برابر شوي دي.
- د پوهنې ریاست له لورې ټولو برنامو ته ۱۰۰ کارتنه سپین کاغذ، ۳۷۹ ټوکه کمانداره دوسیې، ۵۹۵ ټوکه د مامورینو حاضري کتاب، ۳۴ بستې پلاستیکي دوسیې، ۵۰۳ ټوکه د صادرې واردې کتابونه، ۴۸۵ ټوکه د رسیداتو کتابونه او ۳۸۵۸ ټوکه د زده کوونکو حاضري کتابونه ویشل شوي دي.

**۵. ریاست اړوند فعالیتونه**

- هغه ښوونځیو شمیر چې ځمکه لري او تعمیر ته ضرورت لري د کانسیپټ نوټ د ترتیب په موخه د ښوونځیو د املاکو د ساتنې او پاملرنې عمومي مدیریت ته استول شویدي.
- د لوګر پوهنې د رئیس کاري پلان ترتیب شوی او د منظورۍ په موخه د پلان ریاست ته رسماً استول شوی دی همدارنګه د عمومي زده کړو د آمر، د څرخ ولسوالۍ د آمر او د ریاست دفتر عمومي مدیر کاري پلانونه له منظورۍ وروسته رسماً خپلو اړوندو ادارو ته لیږل شوي دي.
- د پوهنې ریاست په کچه ۴۰۷٦ تنو کارکوونکو ته د مرکز او ولسوالیو په کچه مختصر نصاب تدریس کیږي.

## دویمه برخه

# د پوهنې د درې ګونو عرصو پر بنسټ د عملیاتي پلان د کړنو پرمختګ

### لومړۍ برخه: کیفیت او تړاو

**ټولیزه موخه:** زده کوونکي به په ټولو کچو کې پوهه، مهارتونه، چلندونه او ارزښتونه چې د یو سالم، مسؤلیت منونکي، رشد، او تولیدونکي وګړي لپاره اړین دي ترلاسه کړي او هغوئ به د ټولنیزې هوسایني په بهیر کې د آغېزمنې ونډې اخیستنې او ګډون لپاره چمتو او په کورنیو او نړیوالو بازارونو کې به د خوندي او دوامداره دندې لپاره سمبال شي.

### ۱. پروګرام: ښوونه او روزنه

**۱.۱ فعالیت: د عمومي زده کړو، اسلامي زده کړو او سواد زده کړې د اړتیاوو د ارزونې موندنو پر بنسټ د ښوونیزو موادو پراختیا؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د ښوونې او روزنې برنامې مسؤلینو له لورې په مرکز او ولسوالیو کې ۷۰ بابه د سواد زده کړې کورسونو څخه څارنه ترسره شوې ده؛ چې په دې سره د یادو ښوونیزو مرکزونو د اړتیا وړ موادو پراختیا موندلې ده.

**۱،۲ فعالیت: د لوګر ولایت په کچه د علمي غړو (مربیانو) ظرفیت لوړل؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د مرکزي ټیم له لورې د لوګر ولایت په کچه ۱۲ تنه علمي مرکزي غړي او د ولایتي ټیم له لورې ۳۶ تنه علمي غړي د ولسوالیو په سطحه د ظرفیت لوړولو پروګرام کې روزل شوي دي؛ چې په دې سره یاد علمي غړو په تجربې حاصلې کړې.

**۱،۳ فعالیت: د علمي افکارو، مسؤلیت منلو او ښه چلند په برخه کې په لوګر ولایت کې د ښوونکو، مدیرانو او د ښوونځیو د اداري شوراګانو او علمي غړو لپاره د ظرفیت لوړولو د پروګرامونو ترتیبول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې د علمي افکارو مسئولیت منلو او ښه چلند په برخه کې ۵۰ تنه عملي غړي د مرکزي ټیم له لورې د ظرفیت لوړولو پروګرامونو کې روزل شوي دي؛ چې په دې سره به یاد غړي ښه چلند په اړه معلومات ترلاسه کړي.

**۱،۴ فعالیت: کارکوونکو ته د جواز ورکولو د سیستم د پلی کیدو په موخه لازم چمتوالی؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د جواز ورکولو آمریت له لوري د ۴۴۶ ګڼه مکتوب په اساس تر او سمهاله کومه لایحه او کړنلاره نه ده نهایي شوې نو بنآ نوموړی فعالیت نه ده تر سره شوی.

**۱،۵فعالیت: د لابراتوارنو د اړتیاوو معلوملو لپاره سروې او په لوګر ولایت کې د ترسره شوو پروګرامونو حمایوي څارنه؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې لوګر ولایت پوهنې ریاست د ساینس مرکز علمي او مسلکي غړو لخوا د ۱۵۰ بابه لابراتوارونو او ۳۲ بابه کمپیوتر لیبونو څخه د مرکز، چرخ، خوشي، محمداغه او برکي برک ولسوالیو اړوند خصوصي او امارتي ښوونځیو کې سروې ترسره کړې چې اړتیاوې معلومې شوي او اړوند ادارو سره همغږي شوې ده.

**۱،۶ فعالیت: د لابراتوارونو او کمپیوټرونو اغیزمنتوب او کارولو څخه څارنه او لیدنه؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د لوګر ولایت د پوهنې ریاست د ساینس مرکز مدیریت له لورې د ښار پوهنې آمریت، چرخ، خوشي، محمداغه او برکي برک ولسوالۍ کې له ۱۸۲ بابه لابراتوارونو څخه څارنه تر سره کړې چې په یادو برخو کې ور ته لازمي لارښوونې تر سره شوي دي تر څو په عملي ډول زده کړې وکړي او د لابراتوارونو توکو او موادو څخه سالمه ګټه پورته کړي.

**۱،۷ فعالیت: د ساینس ولایتي مدیریتونو علمي غړو او لابرانت لپاره د ساینس، ریاضي او کمپیوټر برخه کې د روزنیزو پروګرامونو تنظیمول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې له ۹۹۰ ښوونکو له جملې څخه د کیمیا، بیولوژي، فزیک، ریاضي او د ساینس محیطي په رشتو کې د چرخ، ازره او خوشي په ولسوالی کې ۲۱٦ تنه استادانو ته د مرکز ساینس علمي غړو له لوري سمینار دایر شوی دی.

**۱,۸ فعالیت: د مسلکي غړو له خوا لوګر ولایت کې د ریاست د تخنیکي غړو لخوا د واش (WASH) Dewormin په برخه کې د څارندی د تروپ ګروپونو او بدني روزنې ښوونکو لپاره د سیمینارونو او ورکشاپونو دایرول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د څارندوی مسلکي غړو له لوري ۴۰ دانې ورکشاپونه دایر شوي دي چې په یاد ورکشاپونو کې ۱۰ تنه بدني روزنې د مسلکي او غیر مسلکی ښوونکي روزل شوي او د صحت په برخه کې د ۵۵ تنه ښوونکي، مدیران، آمرین او مسلکي غړي او همدرانګه ٦۰۰ تنه زده کوونکي د روغتیا په برخه کې روزنه ترلاسه کړې ده.

**۱,۹ فعالیت: د ځان ارزونې له مخې د قابلیتونو د ارزونې په برخه کې د لوګر ولایت د لازم ظرفیت رامنځته کول او د سواد زده کړې د پروګرامونو د کیفیت د ښه والي لپاره د لازمو لارښوونو ترتیبول او ملي کول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې یاد فعالیت د پوهنې وزارت لخوا نه دی تر سره شوی ځکه چې نوموړی فعالیت د پوهنې وزارت له لورې په لوګر ولایت کې تر سره کیږي.

**۱,۱۰ فعالیت: د لوګر ولایت په کچه د سواد زده کړو د پروګرامونو د ښه تطبیق په موخه، د ترتیب شویو لایحو، طرزالعملونو او لارښودونو د معرفي په هکله د روزنیز ورکشاپ په لاره اچول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې یاد فعالیت د پوهنې وزارت لخوا نه دی تر سره شوی ځکه چې نوموړی فعالیت د پوهنې وزارت له لورې په لوګر ولایت کې تر سره کیږي.

**۱,۱۱ فعالیت: د سواد زده کړې پروګرام د پلي کولو لپاره د سرچینو تشخیص او ترلاسه کول، د دولتي، غیر دولتي بنسټونو او رضاکارانو ملاتړ ترلاسه کول؛**



د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د پوهنې وزارت او یا کومې دولتي او غیر دولتي بنسټ له لورې نوموړی فعالیت په لوګر ولایت کې نه دی تر سره شوی.

**۱,۱۲ فعالیت: د سیمه ییزو خلکو (رضا کارانو) له لارې لوګر ولایت په کچه د ولایتونو د پوهنې په ریاستونو کې د کلیو د سواد زده کړې کمېټو د غونډو جوړول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د عمومي زده کړو آمریت له خوا د ښار پوهنې آمریت، برکي برک، چرخ او محمد آغې ولسوالیو پوهنې آمریتونو کې ۱۴٦د سواد کمیټې غونډې تر سره شوي دي.

**۱,۱۳ فعالیت: د خصوصي ښوونځیو د قانوني اسنادو د تطبیق څارنه او د جواز ورکولو پروسې اسانتیا او چټکتیا همدارنګه، د شرایطو تحلیل او په هغو ولایتونو کې چې له لسو څخه کم خصوصي ښوونځي شتون لري، د پوهنې په برخه کې د خصوصي سکتور د مشارکت لپاره د زمینې برابرول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې پورې د ښوونې او روزنې برنامې له خوا په دې برخه کې کومه کړنه نده ترسره شوې ځکه نوموړی فعالیت د پوهنې وزارت له لورې تر سره کیږي.

## ۲. اسلامي زده کړې

**۲,۱ فعالیت: دارالعلوم ته د مدرسو لوړول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د مدرسو د ارتقاء لپاره کومې مدرسې وړاندیز نه دی کړی تر څو اسنادو ته په کتو د هغوی مدرسې ارتقاء وکړي او دارالعلوم ته لوړې شي.

**۲,۲ فعالیت: د طالب العلمانو او زده کړیالانو ترمنځ د علمي سیالیو په لاره اچول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د مسلکي پراختیا غړو لخوا په ازرې ولسوالی کې د طالب العلمانو تر منځ علمي سیالي تر سره شوه چې ۱۱۰ طالب العلمانو په کې ګډون کړی وو.

**۳.۲ فعالیت: د دارالعلومونو د اداري او تدریسي چارو د بیا کتنې او اړتیاؤ معلوملو په موخه د علمي او تدریسي غړو لېږل؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د لوګر ولایت د اسلامي زده کړو آمریت اړوند مسلکي غړو له لورې د لوګر عالي دارالعلوم د محمدآغې د پوهنې آمریت اړوند د امام اعظم دارالعلوم څخه لیدنه شوې چې ۵ اړتیاوې یې هم معلومې شوي دي.

**۴.۲ فعالیت: په لوګر ولایت کې د نویو مقرر شویو کارکوونکو د ظرفیت لوړولو په موخه د لارښوونې سیمینارونو دایرول؛**



د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې ۳ سمینارونه به تعداد ۳۵ مدرسینو او استادانو ته د لوګر ولایت په مرکز کې د مسلکي پراختیا غړو لخوا پر لاره اچوال شوي دي.

**۲,۵ فعالیت: په لوګر ولایت کې د اسلامي زده کړو اړوند مدرسو او دارالحفاظونو د اداري او تدریسي کارونو د بیاکتنې او اړتیاؤ معلوملو په موخه د علمي او تدریسي غړو ورلیږل؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د اسلامي امریت مسلکي غړو له لوري د لوګر ولایت اړوند خروار ولسوالی کې د ۳۵ بابه مدارسو او دارالحفاظونو او په مرکز ،برکی برک،خوشي،محمدغه،ازره او څرخ ولسوالیو کې ۷۶ مدارسو او دارالحفاظونو څخه د اسلامي تعلمیاتو مسلکي غړو له لوري لیدنه شوې .

**۲,۶ فعالیت: په شته ډیټابیس کې د علماء کرامو د ازموینو ثبتول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې په تعداد ۱۵۷ حافظان او په تعداد ۱۱۳ نفره په عالیه درجه د اسلامي تعلیماتو اړوند په شته دیټابیس کې ثبت شوې دي

**۲,۷ فعالیت: په لوګر ولایت کې د مدرسو او دارالحفاظونو استادانو ته د نویو درسي کتابونو د ورپیژندلو په موخه د ورکشاپ دایرول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د مسلکي پراختیا مدرسینو لخوا د ۴۳ مدرسینو له تدریسي بهیر په لوګر مرکز پل علم او څرخ ولسوالی کې لیدنه ترسره شوې؛ چې د تدریس د لا ښه پرمختګ او نوي میتودنو په برخه کې ورته روزنه ورکړل شوې ده.

**۲,۸ فعالیت: د مدرسو فارغین په عالیه او عالمیه ازموینو کې ثبتول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د کومې مدرسې فارغانو یا کومو طالب العلمانو لخوا مراجعه نه ده شوې د مراجعې په صورت کې به نوموړی فعالیت ترسره شي.

## ۳. د کیفیت تضمین

**۳,۱ فعالیت: د لوګر ولایت او ولسوالیو په کچه د کیفیت لرونکو احصاییوي ارقامو راټولولو په موخه د ظرفیت لوړونې ورکشاپونو په لاره اچول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې احصائيې مدیریت کارکوونکو له خوا د مرکز په شمول برکي برک، محمد آغه، چرخ او خوشي ولسوالۍ کې د احصاییوي ارقامو د را ټولولو په موخه د ظرفیت لوړونې ۱۲ ورکشاپونه ترسره شوي دي.

**۳,۲ فعالیت: د لوګر ولایت په کچه د ۱۴۰۲ هـ ش کال احصاییوِي ارقامو ۱۰٪ کتنه او تصدیق؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې دلوګر ولایت په کچه د ۱۴۰۲ کال د مرکز په شمول ټولو ولسوالیو کې ۱۰٪ احصاییوي ارقام د ترینرانو له لوري څارنه کتنه او تصدیق شوي دي.

**۳,۳ فعالیت: د ډیتاسیټونو، ولایتي پروفایلونو، د احصایې او معلوماتو تحلیلي کتابونو او پوهنې اطلس په بڼه د ۱۴۰۲ هـ ش کال د احصایي ترتیبول او د نشراتو ریاست ته استول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د احصایې مدیریت له لورې د ۱۴۰۲ کال احصائیه په چاپي بڼه چاپ او ګټې اخیستنې لپاره د پوهنې وزارت نشراتو ریاست ته استول شوې ده.

**۳,۴ فعالیت: د ډیتاسیټونو، ولایتي پروفایلونو، د احصایې او معلوماتو تحلیلي کتابونو او پوهنې اطلس په بڼه د ۱۴۰۳ هـ ش کال د احصایي ترتیبول او د نشراتو ریاست ته استول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې نوموړی فعالیت نه دی تر سره شوی ځکه چې د ۱۴۰۴ کال په جریان کې دا فعالیت ترسره کیدونکی دی.

**۳,۵ فعالیت: د نویو تاسیس شویو او د تېرو کلونو د پاتې ښوونځیو د مختصاتو راټولول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د EMIS سیستم د ریاست د ترینرانو د نشتون له امله نوموړی فعالیت نه دی ترسره شوی.

**۳,٦ فعالیت: د بري لیکونو/شهادتنامو ترتیب، تدقیق، طی مراحل او وېشل؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د پوهنې وزارت د نتایجو او شهادتنامو ریاست له لورې د لوګر ولایت پوهنې ریاست اړوند د ۱٦ تعلیمي مراکزو د مرکز او ولسوالیو پوهنې آمریت اړوند ښوونځیو ته ۳۸۷۵ قطعې شهادتنامې په ګروپي بڼه تائید شوي او ویشل شوي دي.

**۳,۷ فعالیت: د ولایتونو پوهنې ریاستونو ته د سپینو بري لیکونو/شهادتنامو وېشل؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د پوهنې وزارت له لورې لوګر پوهنې ریاست ته ۳۹۰۳ قطعې سپین بري لیکونه رارسیدلي او ویشل شوي دي.

**۳,۸ فعالیت: د دولسم او څوارلسم ټولګیو د فارغانو د نتایجو جدولونو تدقیق، تطبیق او تاییدول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د لوګر ولایت په کچه د دولتي ښوونځیو ۱۰۹ ټوکه، د خصوصي ښوونځیو ۱۴ ټوکه او د سامع فارغانو ۳۲۵ د پایلو نتایجو جدولونه د لوګر ولایت پوهنې ریاست او وزارت مسئولینو له لوري تائید شوي دي.

**۳,۹ فعالیت: د څارنې، ارزونې او راپور ورکولو په برخه کې فردي او نهادي ظرفیت لوړونه؛**



د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د پوهنې وزارت ۲ تنه راغلو هئیتانو له لورې د لوګر ولایت پوهنې ریاست په غونډو په تالار کې راپور ورکولو په برخه کې فردي او نهادي ظرفیت لوړونې ورکشاپ دایر شوی ده، چې په یاد ورکشاپ کې د پوهنې ریاست اړوند مدیریتونو ۴۳ تنه کارکوونکي د راپور ورکولو په برخه کې روزل شوي دي.

**۳,۱۰ فعالیت: د لوګر ولایت پوهنې ریاست د فعالیتونو او پلانونو له تطبیق څخه ربعواره څارنه؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د پوهنې ریاست په کچه د عمومي زده کړو، اسلامي زده کړو له فعالیتونو او پلانونو له تطبیق څخه د کیفیت تضمین آمریت څارنې مسلکي غړو له خوا څارنه تر سره شوې ده.

**۳,۱۱ فعالیت: د لوګر ولایت پوهنې ریاست اړوند د پوهنې وزارت د همکارو مؤسسو له پروژو څخه څارنه؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې ماپو مؤسسې، ایچ ایچ او اې مؤسسې، وایفا مؤسسې او اسلو موسسې له پروژو او فعالیتونو څخه د لوګر ولایت پوهنې ریاست کیفیت تضمین آمریت څارنې مسلکي غړو له خوا څارنه تر سره شوې ده او راپورونه یې ترتیب شوي دي.

**۳,۱۲ فعالیت: د عملیاتي پلان له تطبیق څخه د څارنې او ارزونې په موخه د راپور ورکولو سیستم استفاده کول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د څارنې او ارزونې په موخه د راپور ورکولو سیستم په کتبي ډول مخته روان دی او استفاده ترې کېږي چې په پایله کې یې د مرکزي هستې ټولو برنامو او ولسوالیو څخه میاشت په میاشت راپور په جدولي فارمټ کې رالیږل کیږي او بیا د تحلیل او توحید مسلکي غړو له لوري توحید کیږي او ربعوار راپورونه پوهنې وزارت ته په خپل وخت سره استول کیږي.

**۳,۱۳ فعالیت: د عملیاتي پلان د راپور ورکولو آنلاین سیستم پراختیا او تطبیق؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د پوهنې وزارت د ۲ تنه راغلو هئیتانو له لورې د راپور ورکولو ورکشاپ کې د راپور ورکولو آنلاین سیستم په لوګر پوهنې ریاست کې فعال او تطبیق کړ چې هره میاشت په میاشت د عملیاتي پلان راپورونه په کې داخلیږي او پوهنې وزارت یې په اسانی سره تر لاسه کوي.

**۳,۱۴ فعالیت: د چمتو شوي فارمټ سره سم، د ولایتونو په کچه د پلانونو د پرمختګ او لاسته راوړنو ربعوار راپورونو راټولول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د ۵ برنامو او ۷ ولسوالیو په کچه د فارمټ له مخې دولس میاشتنې راپورونه راټول شوي دي او د تحلیل او توحید وروسته په درې میاشتنې بڼه باندې پوهنې وزارت ته استول شوي دي.

**۳,۱۵ فعالیت: د متعلمینو د چارو، په ښوونه او روزنه کې د والدینو د ونډې، ساینس په پوهنه کې، خصوصي زده کړو او د پلټنې پالیسیو پراختیا؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د متعلمینو دچارو په ښوونه او روزنه کې د والدینو د ونډې ساینس په پوهنه کې خصوصي زده کړو او د پلټنې پالیسیو پراختیا د امکاناتو او وسایطو د نه شتون له امله کومې کړنې نه دي تر سره شوي

**۳,۱۶ فعالیت: د کیفیت تضمین او د غیر حضوري زده کړو د پالیسیو بیا کتنه؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د لوګر ولایت په کچه د غیر حضوري زده کړو کوم پروګرام موجود نه دی ځکه چې دا فعالیت دپوهنې وزارت مربوط دی.

**۳,۱۷ فعالیت: د لوګر ولایت په کچه د تقنیني اسنادو او پالیسیو د تطبیق د وړتیا ارزونه او تجربوي تطبیق؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د لوګر ولایت په کچه تقنیني اسناد او پالیسی تطبیق نه دی ارزول شوی ځکه چې دا فعالیت دپوهنې وزارت مربوط دی .

**۳,۱۸ فعالیت: د لوګر ولایت په کچه د تقنیني سندونو او پالیسیو په برخو کې د کارکوونکو روزل او ظرفیت لوړونه؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې ددې فعالیت د تر سره کولو په اړه د پوهنې وزارت لخوا لوګر پوهنې ریاست ته کوم هدایت نه دی ورکړل شوی او نه هم څوک د پوهنې وزارت له لورې راغلي چې دا فعالیت تر سره کړي.

### ۴. سرچینې او اداره

**۱.۴ فعالیت: د ۱۴۰۲ کال د لګول شوې بودیجې له څرنګوالي څخه څارنه او همدارنګه لوګر ولایت مالي کړنو په برخه کې لارښوونه کول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د پوهنې وزارت د مالي او حسابداري ریاست د عادي بودیجې آمریت مسئولینو له خوا د لوګر ولایت د مالي مدیریت کارکوونکو ته لار ښوونه ترسره شوې ده.

**۴,۲ فعالیت: د لوګر ولایت په کچه د مالي چارو په برخه کې د کارکوونکو د ظرفیت لوړول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د پوهنې وزارت مالي او حسابداري ریاست لخوا درې ورځنۍ ورکشاپ د ۱۴۰۳ مالي کال د بودیجې د ترتیب په موخه په مرکز کې ترسره شو چې د لوګر ولایت پوهنې ریاست د مالي مدیریت ۲ تنه کارکوونکو په کې ګډون کړی و.

**۴,۳ فعالیت: دلوګر ولایت د اداري کارکوونکو له پاره د ظرفیت لوړولو د استراتیژۍ طرحې جوړول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د اداري اصلاحاتو له لوري ۱۵۰ تنو د پوهنې ریاست کارکوونکو ته د لوګر ولایت پوهنې ریاست په همغږۍ درې ورځینی سمینار دایر شوی دی.

**۴,۴ فعالیت: د لوګر ولایت په کچه د کارکوونکو د سوانحو دفترونو تدقیق، تصحیح، تطبیق او بریښنایي کول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې سوانحو مدیریت له لوري د ۱۲۵ تنوکه د کارکوونکو او استادانو د سوانح دفتر د الکترونیکي سیستم کې ثبت او تطبیق شوي دي.

**۴,۵ فعالیت: د مدرسو او ښوونځیو د ودانولو لپاره د ځمکو انتقال په اړه د امیرالمؤمنین حفظه الله او محترم ریاست الوزراء فرامینو، لارښوونو او احکامو تعقیب کول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د مدرسو او ښوونځیو د ودانولو لپاره د ځمکو انتقال په اړه د امیرالمومنین حفظه الله او محترم ریاست الوزراء د لارښوونو او احکامو مطابق دوه جریبه ځمکه د حضرت ابوبکر صدیق مدرسې ته انتقال شوي دي.

**۴,۶ فعالیت: د لوګر ولایت په کچه د مدرسو او ښوونځیو د جایدادونو له پاره د ملکیت سندونو جوړول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د لوګر ولایت په کچه د مدرسو او ښوونځیو د جایدادونو لپاره ۱۲ جریبه ځمکه د مرکز پوهنې آمریت اړوند ثبت شوې چې د همدې ځمکې لپاره ۴ سندونه ترتیب شوي دي.

**۴,۷ فعالیت: د لوګر ولایت په کچه د اداري ځایونو او روزنیزو مرکزونو د ودانیو، ترمیمولو او احاطو سجل کول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د لوګر ولایت په کچه ۱۳ ودانۍ د ښوونځیو او ملکیتونو ساتنې مدیریت له لورې سجل شوي دي، ۱۳ ودانیو احاطوي دیوالونه سجل شوي او ۱۹ ترمیم شویو روزنیز مرکزونه سجل شوي دي.

**۴,۸ فعالیت: د املاکو په دفترونو او معلوماتي سیستم کې د ملکیتونو د سندونو او سجلو ثبتول او د هغو فایلبندي؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د ښونځیو ملکیت د ثبت شویو سندونو شمېر ۳ بابه او د ثبت شویو سجلونو شمیر ۱۲ بابه د انجینري مدیریت له لوري ثبت شوي دي.

## ۵. د پوهنې ریاست اړوند فعالیتونه (نشرات، تفتیش، مخابره، پلان او نور)

**۱.۵ فعالیت: د امیرالمؤمنین د فرمانونو او د ریاست الوزرا، وزیرانو شورا او پوهنې وزارت مشرتابه له حکمونو او لارښوونو څخه د ډاډ تر لاسه کولو په موخه سفر تر سره کول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د فرامینو، احکامو او لارښونو د اطمینان او ډاډ په اړه کوم هیئت لوګر ولایت پوهنې ریاست ته سفر نه دی کړی.

**۵,۲ فعالیت: د عامه پوهاوي او چاپي خپرونو چاپ او ویش؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې ۶۰ ټوکه د عرفان مجلې، ۶۰ ټوکه بخوان او بیندیش مجلې، ۹۵۰ ټوکه اونیز نامې او ۱۵ ټوکه نور معلوماتي کتابونه چې له مرکز څخه را لیږل شوی وو د نشراتو مدیریت له خوا پوهنې آمریتونو او اداري مدیریتونو ته واستول شول.

**۵,۳ فعالیت: د پوهنې د یوکلنې کړنې په هکله د کتابونو چاپ؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د پوهنې یو کلنې کړنې په اړه د پوهنې وزارت له لورې ۱۵ ټوکه کتابونه رالیږل شوي دي چې مرکز او ولسوالیو پوهنې آمریتونو ته ویشل شوي دي.

**۵,۴ فعالیت: د لوګر ولایت ولسوالیو او ښوونځیو په کچه د درسي کتابونو د ویشلو له پروسې څخه تخنیکي کتنه؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د لوګر ولایت د مرکز او خوشي ولسوالۍ څخه ۲۵ ښوونځیو کې د درسي کتابونو د ویشلو له پروسې څخه د مربوطه پوهنې امریت له لوري تخنیکي لیدنه شوې ده.

**۵,۵ فعالیت: تر پوښښ لاندې د لوګر ولایت د پوهنې ریاست د اسلامي زده کړو مرکزونو ته( دارالعلومونو او دارالحفاظونو) د ۱۸۵۱۴ ټوکه درسي کتابونو چاپ او ویش؛**



د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د پوهنې وزارت د اسلامي زده کړو معینیت له لورې ۱۸۵۱۴ ټوکه کتابونه رالیږل شوي او د لوګر پوهنې ریاست د اسلامي زده کړو آمریت له لورې نوموړي کتابونه دارالعلوم محمدي او دارالعلوم امام اعظم رحمه الله ته ویشل شوي دي.

**۵,٦ فعالیت: د لوګر ولایت په کچه په پښتو او دري ژبه د سواد زده کړې د ۲۴۰۰ ټوکه درسي کتابونو چاپ او ویش؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې له پوهنې وزارت څخه د سواد زده کړې درسي کتابونه نه دي رالیږل شوي.

**۵,۷ فعالیت: د بدني روزنې د ښوونکو د لارښود د ۷۰۴ ټوکه درسي کتابونو ویش؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې له پوهنې وزارت څخه د بدني روزنې د ښوونکو د لارښود درسي کتابونه نه دي رالیږل شوي.

**۵,۸ فعالیت: په لوګر ولایت کې د استهلاک شویو کتابونو د لیلام چارو تعقیبول او د ولایتونو د نشراتو مدیرانو له لورې د کارونو د پراوونو بشپړول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د استهلاک شویو کتابونو د لیلام په اړه له پوهنې وزارت څخه کومه کړنلاره نه ده راغلې نو یاد فعالیت نه دی ترسره شوی.

**۵,۹ فعالیت: د پلټنې په برخه کې د لوګر ولایتي کارکوونکو لپاره د روزنیزو پروګرامونو په لاره اچول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د پلټنې په برخه کې د لوګر ولایت کارکونکو ته روزنیز پروګرامونه د پوهنې وزارت د پلټنې ریاست له لورې نه دي اچول شوي.

**۵,۱۰ فعالیت: د اړونده پروګرامونو د رسولو په موخه ولایتونو ته د دعوت او ارشاد ریاست د کارکوونکو سفر کول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د پوهنې وزارت د عوت ارشاد کارکوونکي د اړوند پروګرامونو رسولو لپاره لوګر پوهنې ریاست ته۱ ځلې سفر کړی دی.

## دویمه برخه: انډولیز لاسرسی

### ۱. ښوونه او روزنه

**۱,۱ فعالیت: د لوګر ولایت په کچه د ښوونکو د مسلکي پراختیا په موخه د اړونده پروګرامونو د تطبیق له څرنګوالي څخه څارنه؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې یاد فعالیت نه دی تر سره شوی ځکه نوموړی فعالیت د پوهنې وزارت له لورې تر سره کیږي.

**۱٫۲ فعالیت: د لوګر ولایت په کچه د ترل شویو ښوونځیو د بیا پرانستلو او برخلیک ټاکلو په اړه لازم اقدامات؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې نوموړی فعالیت نه دی تر سره شوی ځکه چې بودیجه ورته مشخصه شوې نه ده.

**۱٫۳ فعالیت: د فزیک، کیمیا، بیولوژي، ریاضي او محیطي ساینس په برخو کې د شته کمپیوټر لبو او لابراتوارونو تجهیزول او رامنځته کول؛**

د ۱۴۰۳ کال تر پایه پورې د فزیک، کیمیا، بیولوژي، ریاضي او محیطي ساینس په برخه کې ۲۸۰۰ قلمه ساینسي مواد د ریاست معارف له بودیجې څخه په تعداد ۱۵۰ بابه مکاتبوته توزیع شوي دي خو د کمپیوټر لیبونو په برخه کې د بودیجې د نشتون له امله کار نه ده شوي.

**۱٫۴ فعالیت: په دولتي ښوونځیو کې د لوګر ولایت په کچه د ۱۶۱۵۶ جدیدالشمول زده کوونکو جذبول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د عمومي زده کړو په ښوونځیو کې ټولټال ۱۶۴۳۶ تنه زده کوونکي چې له دې جملې ۱۰۵۹۱ تنه نارینه او ۵۸۴۵ تنه ښځینه زده کوونکي دي؛ د لوګر ولایت په مرکز او ولسوالیو کې جذب شوي دي.







**۱٫۵ فعالیت: د لوګر ولایت په کچه د ۴ بابه نویو ښوونځیو تأسیس؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د عمومي زده کړو آمریت له لورې یو باب ښوونځی د امام اعظم په نامه په خرخ ولسوالۍ کې او یو باب ښوونځی د حضرت عبیده په نامه په مرکز پل علم کې نوی تاسیس شوی دی.

**۱٫۶ فعالیت: په لوګر ولایت کې د اړوندو ادارو سره د پخوانۍ همغږۍ پر بنسټ لومړني ښوونځي منځني ښوونځیو ته او منځني ښوونځي لیسو ته لوړول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د عمومي زده کړو آمریت له لورې د خروار ولسوالۍ پوهنې آمریت اړوند یو منځنی ښوونځی د خوشحال په نوم، د برکی برک ولسوالی پوهنې آمریت اړوند د پنده ،تګاب او د ازرې پوهنې آمریت اړوند رزاخیل منځني ښوونځی لیسې دورې ته ارتقاکړي دي.

پاتې لومړني نارینه، ښځینه او مختلط ښوونځي؛ لیسو ته ارتقاء نه ده کړي ځکه چې تر اوسه پورې شرایط یې نه دي برابر شوي..

**۱٫۷ فعالیت: جلا کول، د نوم بدلول، ادغام، د جنسیت بدلون، د اقلیم بدلون او په لوګر ولایت کې له یوه ځای څخه بل ځای ته د ښوونځیو انتقال؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې یاد فعالیت نه دی ترسره شوی ځکه چې چا یې غوښتنه نه ده کړې.

**۱٫۸ فعالیت: د لوګر ولایت پوهني ریاست او اړوندو ادارو سره د ښوونځیو جوړولو د پروژو (د احاطې دیوال، احاطې او د پاکو اوبو څاه ګانو) په برخو کې همغږي؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د لوګر ولایت څرخ ولسوالۍ مربوط ۳ بابه ښوونځیو ته د پاکو اوبو څاګانو کیندل او د سولرو سیستم فعال شوی، د محمدآغې او ازرې په ولسوالۍ کې د ۴ بابه ښوونځیو د تشنابونو د احاطې دیوالونه جوړ شوي همدارنګه د برکي برک ولسوالۍ پوهنې آمریت اړوند او د ښاري پوهنې آمریت اړوند د ٦ بابه ښوونځیو د پاکو اوبو د څاګانو احاطې دیوالونه جوړولو چارې روانې دي.

**۱,۹ فعالیت: له بهر څخه راستانه شویو او مجاهدینو د اړتیاوو او غوښتنو سره سم د ټولګیو تثبیتول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې له بهر څخه راستانه شوي زده کوونکو د زده کړو په موخه پوهنې ریاست ته ۴۰ تنو زده کوونکو مراجعه کړې او هغه مجاهدین چې په ۱۴۰۲ کال کې یې د مجاهدینو تثبیت صنف آزموینې لپاره نوم لیکنه کړې وه چې د ۱۴۰۳ کال حمل میاشت کې د پوهنې وزارت له لوري د ازموینې اخیستلو اجازه ورکړه چې له۵۹۷ تنو مجاهدینو څخه د لوګر ولایت پوهنې ریاست د یاد ولایت په مرکز کې آزموینه واخیستل شوه.

**۱,۱۰ فعالیت: د مرستندویه موسسو په همکارۍ په لوګر ولایت کې د سیمه اییزو او چټکو زده کړو ټولګیو جوړول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د سیمه اییزو او چټکو زده کړو ټولګي نه دي جوړ شوي ځکه چې مرستندویه موسسو همکاري نه ده کړې.

**۱,۱۱ فعالیت: د څارندوي ټیمونو، ترافیک او اور وژنې ټیمونو رامنځته کول او فعالول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د لوګر پوهنې ریاست اړوند ښوونځیو کې د ترافیک او اطفائیه ۱۱۰ ټیمونه ایجاد شوي او د څارندوې ۳۰ ټیمونه د مرکز او ولسوالیو په سطحه ایجاد شوي دي.

**۱,۱۲ فعالیت: د سواد د اهمیت په اړه د عامه پوهاوي د لوړولو په موخه د پروګرامونو تنظیمول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د جوماتونو او تکیه خانو له لارې ۳۵ د سواد اهمیت په اړه عامه پوهاوي پروګرامونه تر سره شوي دي او پاتې د بودیجې نه شتون له امله نه دي ترسره شوي.

**۱,۱۳ فعالیت: د سیمه اییزو زده کړو، له ښوونځي څخه پاتې ماشومانو په مرکزونو او حرفوي او حیاتي زده کړو په ښوونځیو کې د اړمنو او زده کړې څخه بې برخې خلکو له پاره د سواد، حرفوي، شغلي، سواد حیاتي او ژوند مهارتونو د زمینې برابرول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د پوهنې وزارت لخوا په کلنۍ موخه کې هدف نه دی ذکر شوی بناءً کومې کړنې نه دي تر سره شوي.

**۱,۱۴ فعالیت: راستنیدونکو او داخلي بې ځایه شویو لپاره چې د زده کړې څخه بې برخې پاتې د سواد زده کړو د زمینې برابرول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې تر اوسه پورې راستنیدونکو زده کوونکو د سواد زده کړو برنامې یامدیرت تر چتر لاندې مراجعه نه ده کړې د شاګردانو د مراجعې په صورت کې کړنې تر سره شي

**۱,۱۵ فعالیت: د سواد زده کړې په کورسونو کې د نالوستو کسانو جذبول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د سواد زده کړې مدیریت له لورې په برکي برک، محمداغه، چرخ، خوښي او ازرې پوهنې آمریتونو اړوند ۱۳۷۵تنه نالوستي کسان د سواد زده کړې په کورسونو کې جذب شویدي.

**۱,۱٦ فعالیت: د ملا امامانو او کوچیانو د پروګرام له لارې د سواد زده زده کړې په کورسونو کې د نالوستو کسانو جذبول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې نوموړی فعالیت د بودیجې د نه شتون له امله نه دی تر سره شوی.

**۱,۱۷ فعالیت: دلوګر ولایت په کچه د سواد زده کړې کورسونو رامنځته کول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د مرکز په شمول د ټولو ولسوالیو پوهنې آمریتونو اړوند د رسمي ښوونکو له لورې ۷۴ بابه د سواد زده کړې کورسونه تاسیس شوي دي. پاتې نور سواد زده کړې کورسونه د بودیجې او ملاتړ کوونکو موسسو د نه همکارۍ له امله نه دي جوړ شوي.

**۱،۱۸ فعالیت: دخصوصي ښوونیزو موسسو او کورسونو ملاتړ او اعتبار ورکول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې د عمومي زده کړو آمریت له لورې په مرکز کې ۳ ابتدائیه خصوصي ښوونځي ایجاد شوي او څلور بابه خصوصي کورسونه په مرکز او ولسوالیو کې نوي رامنځ ته شوي دي او همدرانګه د الحرمین ۴نمبر په محمداغه ولسوالی او د ښاري پوهنې آمریت اړوند هلال احمدزي او الفت خصوصي ښوونیزو مرکزونو جوازونه تمدید شوي دي او د ښار پوهنې آمریت یو خصوصي ښوونځی القلم په نوم منځنی دورې ته او همدارنګه روشنایي علم خصوصي ښوونځی، لیسې ته ارتقاء کړې ده.

**۱،۱۹ فعالیت: د خصوصي ښوونځیو زده کوونکو دري کلنو نمرو ته اعتبار ورکول ترڅو په بهر کې خپلو زده کړو ته دوام ورکړي؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې یاد فعالیت ندی تر سره شوی ځکه چې زده کوونکو لخوا مراجعه نده شوې.

**۱،۲۰ فعالیت: په خصوصي ښوونځیو او کورسونو کې د هغو زده کونکو لپاره چې د مالي اړخه کمزوي وي د زده کړو د زمینې برابرول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د عمومي زده کړو آمریت له لورې ۲۳ تنه زده کوونکي خصوصي ښوونځیو ته او ۱۹ تنه زده کوونکي کورسونو ته چې د مالي اړخه کمزوري وو د زده کړو په موخه معرفي شوي دي.

## ۲. اسلامي زده کړې

**۲،۱ فعالیت: د اسلامي زده کړو د رسمي بنسټونو تاسیس، د نوم او بنې بدلون، ارتقاء، تمدید او د بستونو وېش؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د محمداغي پوهنې امریت اړوند عثمان بن عفان مدرسې دارالحفاظ ته بدلون ګړی او د مرکز په شمول شپږو پوهنې امریت اړوند مسلکي پراختیا غړي تاسیس شوي دي.

**۲،۲ فعالیت: د اسلامي زده کړو له تاسیس، د نوم بدلون، ارتقاء، تمدید او د خصوصي مرکزونو د جواز د بڼې د بدلون څخه کتنه او کنترول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د اسلامي زده کړو د آمریت له لورې د المومینات په نامه یو باب د اناثو خصوصي مدرسه چې په مرکز کې موقعیت لري څارنه او پلټنه شوې ده.

**۲،۳ فعالیت: د ۴۵۰ حافظانو او علماء کرامو د سویې تثبیت؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د اسلامي زده کړو آمریت له لورې د ولایت په کچه ۱۲ ټولګي ته د ۴۱۵ تنه علماء کرام، ۱۴ ټولګي ته ۸۵ تنه علماء کرام او ۳۰۸ تنه حافظان تثبیت شوي دي.

**۲،۴ فعالیت: د دارالعلومونو د اداري او تدریسي لوازمو د اړتیاوو بشپړول او تجهیزول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د بودیجې د نه شتون له امله د اسلامي زده کړو برنامې یا فعالیت ندی ترسره کړی.

**۲،۵ فعالیت: د طالب العلمانو لپاره د لیلیې رامنځته کول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې اسلامي زده کړو آمریت له لورې ۳۵۰ تنو طالب العلمانو ته د لایحه مطابق په مرکز او ولسوالیو کې لیلیه ورکړل شوې ده .

**۲،۶ فعالیت: په دارالعلومونو کې د اختصاصي ازموینې له لارې د عالي دورې په ۱۳ او ۱۴ ټولګیو او د دارالعلوم په لومړنۍ دورې کې د جدیدالشمولانو جلب او جذب؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د اسلامي زده کړو آمریت له لورې په دارالعلومونو کې ۱۳ او ۱۴ ټولګیو ته ۵۹ تنه طالب العلمان جذب شوي دي او همدارنګه د لومړیې دورې لپاره ۴۷۲ تنه طالب العلمان جذب شوي دي

**۲،۷ فعالیت: د ۲۳۰ مدرسو او د نویو دارالحفاظونو جوړول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د اسلامي زده کړو آمریت له لورې په مرکز او ولسولیو کې ۴۵ بابه نارینه مدرسې او ۶ بابه ښځینه مدرسې تاسیس شوي دي او دارالحفاظونه تر اوسه پورې د مراجعینو د نه غوښتنې په اساس نه دي تاسیس شوي دي.

**۲,۸ فعالیت: په لوگر ولایت کې د ۱۶ بابه کلیوالي مدرسو او دارالحفاظونو جوړول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې یاد فعالیت ندی تر سره شوی ځکه چې د نویو کلیوالي مدرسو او دارالحفاظونو جوړولو لپاره څوک نه دي عارض شوي تر څو مدرسې او دارالحفاظونه ورته جوړ شي.

**۲,۹ فعالیت: په لوگر ولایت کې د ۴۵۷ بابه عمومي او کلیوالي مدرسو سمبالول/تجهیزول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د بودیجې د نه شتون له امله د اسلامي زده کړو برنامې دا فعالیت ندی ترسره کړی.

## ۳. د کیفیت تضمین

لوگر ولایت په ۱۴۰۳ کال عملیاتي پلان کې د انډولیز لاسرسي اړوند د کیفیت تضمین پروگرام پلان شوی فعالیت موجود نه دی.

## ۴. سرچینې او اداره

**۴,۱ فعالیت: ښوونیزو او اداري مرکزونو او نویو تاسیس شویو ښوونځیو ته د تشکیل او کوډونو لیږدول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې دلوگر ولایت پوهنې آمریتونو اړوند د مرکز، خروار او برکي برک ولسوالیو ښوونیزو او اداري مرکزونو او نویو تاسیس شویو ښوونځیو ته د تشکیل کوډونه لیږل شوي دي.

**۴,۲ فعالیت: د ښوونځیو د تشکیل لوړول له لومړني ښوونځي څخه منځني او لیسې ته او نورو ښوونیزو اداري مرکزونو ته لوړول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د ښوونځیو تشکیل لوړول له لومړني ښوونځي څخه منځني او لیسې ته د پوهنې آمریتو نظر په ضرورت غوښتنه نده شوې نو بناء یاد فعالیت نه ده اجراشوی.

**۴,۳ فعالیت: د طرحو، ساختارونو او تشکیلاتي احصایو نهایي کول او د منظورۍ او تطبیق په خاطر یې د ریاست الوزرا لوړ مقام ته لیږل؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې یاد فعالیت نه دی ترسره شوی ځکه چې نوموړی فعالیت د پوهنې وزارت له لورې ترسره کیږي.

**۴,۴ فعالیت: د بشري سرچینو د پروسو ساده کول او سمون او د لوگر ولایتي ادارو د دندو د لایحو بیا کتنه او معیاري کول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د سرچینو او اداري برنامې د مرکز او ولسوالیو په سطحه د وظایفو لایحې په مضمون وار ډول کتلي دي.

**۴,۵ فعالیت: د برېښنایي سیستم د تطبیق، د جنسونو د محاسبې او عامه جایدادونو (جنسونو، سامانونو، وسایطو اونورو... د ثبت او د څارنې د څرنگوالي په موخه د یو تخنیکي ټیم ټاکل او لېږل؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې نوموړی فعالیت نه دی تر سره شوی ځکه چې د پوهنې وزارت له لورې یاد فعالیت ترسره کیږي

**۴,۶ فعالیت: په لوگر ولایت کې د اسلامي امارت د ۱۴۰۲ کال بودیجې څخه د بنسټیزو نیمه کاره پروژو (ښوونځیو، مدرسو او دارالحفاظونو) بشپړول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې یاد فعالیت د پراختیایي بودیجې د نشتون له امله ندی تر سره شوی.

**۴,۷ فعالیت: د دولت او همکارو موسسو له بودیجې څخه د ساختماني پروژو جوړول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د همکارو موسسو له بودیجې څخه ۴۱ ساختماني پروژې محمداغې، څرخ، خرواراو برکي برک ولسوالی کې تر سره شوي دي.

**۴,۸ فعالیت: د ښوونځیو د ساتنې او پاملرنې او املاکو ریاست په همغږۍ سره د لوگر ولایت ټیمونو له لارې د عادي او موسسو له بودیجې څخه ترمیماتي پروژو تطبیقول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د ولایت په سطحه په ټولو ولسوالیو کې۵۸ بابه ښوونځي او مدرسې د اسلامي امارت د بودیجې له طریقه ترمیم شوي دي.

**۴،۹ فعالیت: د لوګر ولایت څخه د بنسټیزو او ترمیماتي پروژو د قیمت ورکولو په موخه په ربعوار ډول د ساختماني موادو د نرخونو راټولول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د ساختماني موادو نرخونه په دوه کټګوریو کې را ټولیږي چې د مرکز لپاره یو نرخ او لرې پرتوسیمو ولسوالیو لپاره بل نرخ راټول شوی یعنې امکاناتو ته په کتو سره یواندازه تفاوت لري له ترتیب وروسته د پوهنې وزارت اړوند د ښوونځیو او ملکیتونو د ساتنې او خوندیتوب ریاست سره شریکیږي.

**۴،۱۰ فعالیت: د ښوونځیو او مدرسو د جوړولو په موخه د معارف پاله خلکو له لارې د شخصي ځمکو برابرول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د لوګر ولایت په سطحه د پوهنې ریاست اړوند په خرخ او برکي برک   ولسوالیو کې د ولس له خوا ۱۳جریبه ځمکه د مدرسو او ښونځیو لپاره مشخصه شوې ده.

**۴،۱۱ فعالیت: د لوګر ولایت په کچه د پوهنې اړوند تر دعوې او شخړې لاندې غصب شویو جایدادونو د دوسیو تعقیبول او د پوهنې د غصب شویو، نیول شویو او تر دعوې لاندې جایدادونو خلاصول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د لوګر ولایت په کچه د پوهنې ریاست اړوند د دعوې اوشخړې لاندې غصب شویو جایدادونو ۳۳ بابه ښوونځیو دوسې تر تعقیب لاندې دي چې د ۲۰ بابه ښونځیو د ملکیت دعوې خلاصې شوي دي.

### ۵. د پوهنې ریاست اړوند فعالیتونه (نشرات، تفتیش، مخابره، پلان او نور)

**۵،۱ فعالیت: د لوګر ولایت پوهنې ریاست استازو ته د ولایت له پوهنې څخه د ترلاسه شویو مکتوبونو د  ترلاسه کېدو او ښه کړنېو په اړه معلومات ورکول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د لوګر ولایت پوهنې ریاست استازې ته د پوهنې ریاست څخه ټول د د ندو داشغال مکتوبونه،متقاعدینو،منفکي،د دندو داشغال مکتوبونو د ښوونکو او مامورینو مکتوبونه همدارنګه د تقرر او تبدل وړاندیزونه او ټول معلوماتي مکتوبونه او وړاندیزونه د لوګرو لایت معلوماتو او ټیکنالوژي له مدیریت څخه پوهنې وزارت ته لیږل شوي او هلته د پوهنې ریاست استازي لخوا د نورو کړنو په موخه په ښه او منظم ډول طی مراحل شوي.

## ۳ برخه: آغېزمن، روڼ او ځواب ویونکی مدیریت

### ۱. ښوونه او روزنه

**۱،۱ فعالیت:د لوګر ولایت په لرې پرتو او محرومو سیمو کې د ښوونکو د ګمارنې له ځرنګوالي څخه خارنه؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د ښوونې او روزنې برنامې له لوري کومې کړنې نه دي تر سره شوي ځکه چې نوموړی فعالیت د پوهنې وزارت له لورې تر سره کیږي.

**۱،۲ فعالیت: د اساسي او ثانوي زده کړو ریاست سره په همغږۍ په لوګر ولایت کې د  خارنې له لارې د ښوونې او روزنې پروګرام اړوند د پوهنې وزارت سره د همکارو مؤسسو د لاسلیک شویو تعاهد/هوکړه لیکونو څخه د ډاډ ترلاسه کول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې یاد فعالیت په لوګر ولایت کې د پوهنې وزارت له لوري ندی تر سره شوی.

**۱،۳ فعالیت: د مقام د وزارت ته د عمومي ریاست او تر چتر لاندې اړوند ریاستونو د کادري غړو د علمي رتبو تصویب او پیشنهادول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې یاد فعالیت نه دی ترسره شوی ځکه چې یاد فعالیت د پوهنې وزارت اړوند دی.

**۱،۴ فعالیت: لوګر ولایت کې د ښوونکو د روزنې او مسلکي پراختیا غړو لخوا د ښوونځیو د شوراګانو له کارونو او د هغوی له آغېزمنتوب څخه څارنه؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې په لوګر ولایت کې د ۱۲۴ شوراګانو څخه د ښوونکو د روزنې او مسلکي پراختیا غړو لخوا د ښوونځیو د شوراګانو له کارونو او د هغوی له آغېزمنتوب څخه په مرکز او ولسوالیو کې څارنې تر سره شوي دي چې پر دې لړ کې د ښوونې او روزنې په برخه کې عامه پوهاوی تر سره شوي او همدارنګه د ښوونې او روزنې د ارزښت په اړه غونډې تر سره شوي دي او ښوونځیو ته د جدیدالشمولانو د جلب او جذب په اړه کمپاینونه تر سره شوي دي.

**۱،۵ فعالیت: مسلکي پراختیا، عمومي زده کړو ښوونځیو، سیمه ئیز او چټکو زده کړو ټولګیو او سواد زده کړو کورسونو څخه حمایوي څارنه؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د مسلکي پراختیا مرکز څخه، د عمومي زده کړو ۱۴۷۵ بابه ښوونځیو څخه، ۴۱۴ بابه د سیمه ایزو زده کړو ټولګیو او ۷۱ بابه د چټکو زده کړو ټولګیو څخه د ښوونې او روزنې برنامې مسلکي غړو له لوري حمایوي څارنه تر سره شوې ده.

**۱،۶ فعالیت: د درسونو مشاهدې له لارې د ۱۱۲۶ تنو ښوونکو او نورو ښوونیزو کارکوونکو د کتنو له لارې د روزنیزو اړتیاوو په ډاګه کول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د لوګر ولایت په کچه د مسلکي پراختیا غړو له لورې ۲۳۵۹ تنه ښوونکو، ۱۱۳ تنو سرښوونکو، ۱۱۱ تنو مدیرانو او ۴۹ تنو د سواد زده کړو ټولګیو ښوونکو د تدریسي بهیر او کړنو څخه مشاهده تر سره شویده.

**۱،۷ فعالیت: د ترسره شویو علمي راپورونو ترلاسه کول، توحید، تحلیل او وړاندې کول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د تر سره شویو علمي راپورونو ترلاسه کولو په اړه د کومې مرجع له لوري مراجعه نه شوې نو د یاد فعالیت په اړه کومې کړنې نه دي تر سره شوي .

**۱،۸ فعالیت: د هوکړه لیکونو کتنه او تخنیکي اصلاح او د همکارو مؤسسو په ملاتړ د ګډې نمونوي څارنې ترسره کول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې یاد فعالیت نه دی ترسره شوی ځکه چې نوموړی فعالیت د پوهنې وزارت پورې مربوط دی.

**۱،۹ فعالیت: د ولایتي ریاست له لارې په لوګر ولایت کې د انجونو د زده کړې پر وړاندې د ستونزو او ننګونو په ډاګه کول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د ښوونې او روزنې برنامې له لورې کومې کړنې نه دي تر سره شوي ځکه چې یاد فعالیت د پوهنې وزارت له لورې تر سره کیږي.

**۱،۱۰ فعالیت: د اساسي او ثانوي زده کړو زده کوونکو له پاره چې له هیواد څخه بهر د زده کړې د دوام غوښتنه لري د ښوونیزو سوابقو او ترانسکرپټونو برابرول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې یاد فعالیت ندی تر سره شوی ځکه چې پدې هکله تر اوسه غوښتنه نده ترسره شوې.

**۱،۱۱ فعالیت: د سیمه ایيزو او چټکو زده کړو د هغو زده کوونکو د احصایې راټول چې د ۱۴۰۳ کال په په پای کې دولتي ښوونځیو ته لېږدول کېږي؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د سیمه ایزو او چټکو زده کړو ۱۹۰۷ نارینه زده کوونکي ښاري، برکي برک، خروار او چرخ ولسوالیو د پوهنې آمریتونو ته او د ۴۱۱۵ ښځینه زده کوونکي ښاري، برکي برک، خروار او چرخ ولسوالیو د پوهنې آمریتونو څخه دولتي ښوونځیو ته ولیږدول شول.

**۱،۱۲ فعالیت: په بیړني حالت کې د زده کوونکو احصایې راټولول او توحیدول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې له بهر څخه بیرته راستنیدونکو ۴۰ تنه زده کوونکو د پوهنې وزارت د کړنلارې مطابق د مسلکي غړو له لوري مربوطه پوهنې آمریتونو ته د زده کړو لپاره وروپیژندل شوي دي او همدارنګه په لوګر ولایت کې ۱۸ بابه ښوونځي دي چې د سیلابونو د را وتلو په بیړنی حالت کې قرار لري او ۱ باب ښوونځی چې په برکي برک ولسوالۍ کې قرار لري د قومي اختلافاتو له امله تړل شوی چې زده کوونکي یې مربوطه نور ښوونځیوته سه پارچه شوي دي.

**۱،۱۳ فعالیت: د روغتیا نړیوال سازمان (WHO) او د خوړو نړیوال پروګرام (WFP) په مرسته دلوګر ولایت په ټولو ښوونځیو کې د کولمو د چینجیو د له منځه وړلو ټولیز کمپاین ترسره کول او د الیندازول د ټابلیټونو ویشل؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د لوګر ولایت ۴۵۲ بابه ښوونځیو او مدرسو ۱۵۹۴۰۰ تنو زده کوونکو ته د البندازول ټابلیټونه د صحت مدیریت له خوا ویشل شوي دي.

**۱،۱۴ فعالیت: د لوګر ولایت پوهنې ریاست کې د څارندوی ټیمونو له لارې د مخدره موادو پر وړاندې د مبارزې تبلیغات کول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د ښوونې او روزنې برنامې اړوند کارکوونکو له لورې په ۲۸ بابه ښوونځیو کې د مخدره موادو پر ضد د مبارزې تبلیغات تر سره شویدي.

**۱،۱۵ فعالیت: د وړتیاوو د معلوملو او ملي او نړیوالو سیالیو ته د معرفي کولو په موخه د ورزشي سیالیو په لاره اچول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د پوهنې ریاست بدني روزنې مدیریت له لوري د خوشي ولسوالۍ پوهنې آمریت اړوند درې ورزشي سیالۍ د وړتیاوو معلوملو په موخه په لاره اچول شوي وو چې په نتیجه کې درې تنه ورزشکاران ملي او نړیوالو سیالیو ته معرفي شوي دي.

**۱،۱۶ فعالیت: د سواد د زده کړې برنامو څخه د مرستې او ملاتړ د جلب په موخه د ولایت او د ولسوالیو په کچه د سواد د کمیټو غونډو دایرول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورېد لوګر ولایت په کچه دوه ولایتي غونډې تر سره شوي چې په چرخ  او خوشي ولسوالیو کې د سواد  د زده کړې برنامې څخه د مرستې او ملاتړ د جلب په موخه ۵ دانې د سواد د کمیټو غونډې دایرې شوې دي.

**۱،۱۷ فعالیت: د خصوصي ښوونځیو او ښوونیزو کورسونو د  امتیاز دلیږد، د ځای د بدلون او ځای ناستي  او مدیر ته اعتبار ورکول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې یو باب ښوونځی په نامه د روشنائی علم له کابل ولایت څخه لوګر ولایت ته را انتقال شوی دوه تنه ځای ناستي د هلال احمدزي ښوونځي مربوط د ښاري پوهنې آمریت تعین کړی او د الحرمین ۲ نمبر ،محمداغې لوګر شفاعت،و سعت دانش، روشنایی علم او القلم نمبر ۲ مرکز پهنې آمریت اړوند مدیران رسمي شوي دي .

## ۲. اسلامي زده کړې

**۲،۱ فعالیت: د علماو کرامو د عالیه او خامسه درجو او د اسلامي زده کړو دیپلوماټیک او ثبت شوي اتشي سندونو ارزونه؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د اسلامي زده کړو آمریت له لورې ۳۸ قطعې د خامسي دورې شهادتنامې، ۲۶ قطعې شهادتنامې د کشف الدرجات دورې او ۱۱۳ قطعې شهادتنامې د څوارلسم ټولګي طالب العلمانو ته ویشل شوي دي.

**۲،۲ فعالیت: د لوګر ولایت په کچه د مسلکي پراختیا غړو له فعالیتونو څارنه او کنټرول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د لوګر ولایت مرکز اړوند دارالعلوم محمدي او د محمد آغې ولسوالۍ پوهنې آمریت اړوند دارالعلوم امام اعظم څخه د اسلامي زده کړو آمریت له خوا دوه، دوه ځلي لیدنه ترسره شوې ده.

**۲،۳ فعالیت: په دارالعلومونو کې د نویو علمي، کدري استادانو د کادرونو اجرا او د علمي رتبو لوړول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې په مرکز کې د محمدي دارالعلوم درې تنه استادان د علمي کادر له امتیاز څخه برخمن شوي دي.

**۲,۴ فعالیت: له ۸۷۸ تنو ګډونوالو څخه د ازمویني اخېستل او د ۱۲ او ۱۴ ټولګیو د ارزول شویو ۸۷۸ قطعو شهادتنامو اجرا کول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د اخستل شویو مشترکو ازموینو کې ٦۰۰ تنه، د دولسم ټولګي ته ۱۳۸ قطعې شهادت نامې او د مشترکې ازموینې او ارزونې وروسته ۱۴ ټولګي ته ۱۳۰ قطعې شهادتنامې ویشل شوي دي.

**۲,۵ فعالیت: په مرکز او ولایتونو کې د قرانکریم د سیالیو ترسره کول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د مسلکي پراختیا غړو لخوا په ازرې ولسوالۍ کې د طالب العلمانو تر منځ د قران کریم سیالي تر سره شوه چې ۱۱۰ طالب العلمانو په کې ګډون کړی وو.

## ۳. د کیفیت تضمین

لوګر ولایت په ۱۴۰۳ کال عملیاتي پلان کې د آغیزمن، روڼ او ځواب ویونکي مدیریت برخې اړوند د کېفیت تضمین پروګرام پلان شوی فعالیت موجود نه دی.

## ۴. سرچینې او اداره

**۴,۱ فعالیت: په مرکز او ولایتونو کې د بشري سرچینو د راجسټریشن په سیستم کې د معلوماتو نوي کول ( د خالي بستونو په ډاګه کول)؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې ۵۳۹ خالي بستونه د مرکز په کچه پیژندل شوي او ٦۹۸ خالي بستونه د ولسوالیو په کچه د ادارې او سرچینو برنامې له لارې د راجستریشن په سیستم کې په مرکز او ولسوالیو کې په ډاګه شوي دي.

**۴,۲ فعالیت: د لوګر ولایت په کچه د کارکوونکو د ثبت او راجسټریشن د وړاندیز شویو تغیراتو ثبتول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې ۲۳۸۰ تنه کار کوونکي د لوګر ولایت په کچه د سرچینو او ادارې برنامې لخوا ثبت او راجستر شوي دي.

**۴,۳ فعالیت: د تبدیلۍ او بست د لوړوالي چارو د پرمخ بیولو په موخه، استخدام ریاست ته د تشو بستونو په اړه د معلوماتو وړاندې کول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې ۲۴۲۴ خالي بستونو د سرچینو او ادارې برنامې له لورې د استخدام ریاست ته معلومات وړاندې شوي دي.

**۴,۴ فعالیت: د ٦۵۰ هویت/ پیژند کارتونو چاپ او ویش.**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې ۲۷۰ ټوکه فورمې ترتیب او د چاپ لپاره مرکز ته لیږل شوي چې د هغه له جملې څخه ۱۴۳ دانې هویت کارتونه چاپ او په مرکز کې ویشل شوي دي.

**۴,۵ فعالیت: د لوګر ولایت په کچه په تشو بستونو کې د نویو مقرر شویو کارکوونکو د ګمارنې بهیر څخه مدیریت؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې ۵۴٦ تنه اداري کارکوونکي، ۳۵۴ تنه ښوونکي او ۱۰۱۳ تنه استادان د بشري سرچینو له لورې په دندو ګمارل شوي دي.

**۴,٦ فعالیت: د لوګر ولایت د ښوونیزو چارو، اداري کارکوونکو او خدماتي کارکوونکو د کړنو د ارزونې نتایجو ( د بست او قدم لوړول ) بیاکتل او د پړاوونو بشپړول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې۱۳۸۲ تنه ښوونکو قدمونه، ۵٦ تنه ښوونکو بستونه او ۵۰ تنه کارکوونکو بستونه د بشري سرچینو له لورې ارزول شوي بست او قدم یې لوړ شوي دي.

**۴,۷ فعالیت: د لوګر ولایت په کچه په شرایطو برابر کارکوونکو د تقاعد اجراء کول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې ۱۲۸ تنه ښځینه او نارینه ښوونکي او کارکوونکي د لوګر ولایت په کچه تقاعد ته برابر شوي دي

**۴،۸ فعالیت: د راتلونکي امنیتي پیښو د مخنیوي په موخه، له لوګر ولایت څخه میاشتني، درې میاشتني او کلني امنیتي راپورونو راټولول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د ښوونځي یو تن ملازم او شاګرد د مړینې، محمداغې ولسوالی کې د بهادر کوچي ښوونځي اړوند مات شوي وسایلو او نورالمعارف خصوصي لیسې د یو تن زده کوونکي د وهلو موضوع ګانې څېړل شوي دي.

**۴،۹ فعالیت: د لوګر ولایت په کچه د کتابونو او اداري جنسونو او مالونو د لېږد په موخه د وندې سره سم دچټک تلونکو او بار وړونکو وسایطو په خدمتي توګه تنظیمول او توظیفول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې ۱۵۸ ځله د هیئتانو د انتقال لپاره مختلفو ساحو ته وسایط په خدمتي توګه تنظیم او توظیف شوي دي.

**۴،۱۰ فعالیت: د لوګر ولایتي ادارو لپاره د مطبوع او غیر مطبوع (چاپي او غیر چاپي ) قرطاسیې او مینځوونکو موادو ویشل؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې ۱۰۰ کارتنه سپین کاغذ، ۳۷۹ ټوکه کمانداره دوسیې، ۵۹۵ ټوکه د مامورینو حاضري کتاب، ۳۴ بستې پلاستیکي دوسیې، ۵۰۳ ټوکه د صادرې واردې کتابونه، ۴۸۵ ټوکه د رسیداتو کتابونه او ۳۸۵۸ ټوکه د زده کوونکو حاضري کتابونه ویشل شوي دي.

**۴،۱۱ فعالیت: د پوهنې اړوند ریاستونو د ښوونځیو زده کوونکو لپاره ۱۰۰۰ پایې میزونو او څوکیو تولیدول او جوړول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې ۸۷۶ پایې میز او چوکی د مرکز او محمدآغې پوهنې آمریتونو اړوند ښوونځیو ته ترمیم شوي دي.

**۴،۱۲ فعالیت: د لوګر ولایت پوهنې ریاست د نه بشپړ شویو پراختیایي ساختماني پروژو د قرارداد له تطبیق څخه مدیریت کول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د لوګر پوهنې ریاست اړوند د پنځه قلمه اجناسو او د یو موټر د ترمیم چارې تر سره شوي دي.

**۴،۱۳ فعالیت: دلوګر ولایت په کچه د اړتیا او لارښوونې سره سم د ساختماني او ترمیماتي پروژو د تطبیق له بهیر څخه په بېلابېلو وختونو کې څارنه؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د ۱۳ بنسټیزو پروژو او ۱۹ نورو تر میماتي هغو پروژو څخه چې د تدارک چارې یې روانې دي څارنه تر سره شوې ده.

**۴،۱۴ فعالیت: د ځمکو د انتقال په موخه د ۲ پروتوکولونو لاسلیک کول او د زراعت له محترم وزارت او ښاروالیو څخه د ۱۰۵۰ جریبه ځمکو غوښتل؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د نوموړي فعالیت په اړه کومې کړنې ندي ترسره شوي په راتلونکي کال کې به اجراآت ترسره شي.

**۴،۱۵ فعالیت: د لوګر ولایت په کچه د پوهنې د کرایي ورکړل شویو او نیول شویو جایدادونو د قراردادونو چارو څخه څارنه او مدیریت ترسره کول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې ۳۱ بابه حویلی د هغه ښوونځیو لپاره چې تعمیر نه لري د تدریس د مخته وړلو په موخه په کرایه نیول شوي دي.

**۴،۱۶ فعالیت: د اسلامي امارت او همکارو موسسو د بودیجې څخه د ترمیماتي پروژو په برخه کې د تخنیکي نظر څرګندول.**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د اسلامي امارت او همکارو مؤسسو له بودیجې څخه د ترمیماتي پروژو په برخه کې د۱۸ پروژو په اړه نظر څرګند شوی دی.

### ۵. د پوهنې ریاست اړوند فعالیتونه (نشرات، تفتیش، مخابره، پلان او نور)

**۵،۱ فعالیت: د پوهنې وزارت د معینیتونو سره د دریم او څلورم بستونو د ازموینو په هکله همغږي؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې دا فعالیت نه دی ترسره شوی ځکه چې د دریم او څلورم بست امتحان د ریاست له وړاندیز وروسته معینیتونو کې اخیستل کیږي نو دا فعالیت مرکزي دی.

**۵,۲ فعالیت: د همکارو موسسو او نورو غیر دولتي ادارو سره د تفاهم نامو د یاداښت طی مراحل کول او د هوکړه لیکونو لاسلیک کول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د پوهنې وزارت له لورې د څلورو همکارو موسسو سره تفاهم نامې او هوکړه لیکونه لاسلیک شوي او د لوګر دپوهنې ریاست ته استول شویدي، چې د ماپو، وایفا، وفا او ایچ ایچ او اې موسسو څخه عبارت دي.

**۵,۳ فعالیت: دلوګر ولایتي ادارو د ټولو مکتوبونو، فرمانونو، مصوبو او طرزالعملونو د لېږد را لېږد په برخه کې دوامداره همغږي او د اړیکو ټینګول؛ او د کابل ښار او ولایتونو د پوهنې ریاستونو د پیشنهادونو طی مراحل کول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د ۲۹ مکتوبونه تعقیب شوي، د پوهنې ریاست له لورې ۳۵۷۸ سندونه، ۴۰۲۲ د بنسټونو سندونه تر لاسه شوي او ۸۸ احکامو، فرمانونو او مصوبې رالیږل شوي او د پوهنې وزارت او اړوند معینیتونو ته د منظورۍ په موخه ۳٦٦ پیشنهادونه لیږل شوي دي.

**۵,۴ فعالیت: دلوګر ولایت څخه د تر لاسه شویو راپورونو تعقیب، کنترول او انسجام او د پوهنې د کارکوونکو د داخلي خدمتي سفرونو تنظیمول**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې تر لاسه شویو راپورونو شمېر ۸۳، د هیئتانو سفر شمېر ۲۱، او د ولایتونو د پوهنې ریاستونو د خدمتي کار کوونکو د طی مراحل شویو اسنادو شمېر ۳۵ ته رسیدلي دي.

**۵,۵ فعالیت: دلوګر ولایت د پوهنې ریاست د ترلاسه شویو اسنادو هر اړخیزه کتنه او اړونده مرجعو ته یې استول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې ۳۵۷۸ قطعې مکتوبونه د ولایتونو د کار پوهانو له لورې د پوهنې ریاست له مختلفو شعباتو څخه وزارت مقام ته استول شوي دي

**۵,٦ فعالیت: د کوچیانو د ښوونیزو چارو د ملاتړو او تقویتي پروګرامونو تنظمیول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې یاد فعالیت د پوهنې وزارت له لوري نه دی ترسره شوی.

**۵,۷ فعالیت: د دفتري کارونو څخه مدیریت، د واحدونو تر منځ د همغږۍ رامنځ ته کول او د لوګر ولایت پوهنې ریاست ته د د رهبرۍ د ځانګړو لارښوونو او پریکړو ابلاغول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې ۴۲ پریکړې تکثیر شوي، ۲۳ ځانګړې لارښوونې او سل سلنه د فتري کارونو د تنظیم څخه مدیریت او څارنه ترسره شوې ده.

**۵,۸ فعالیت: د لوګر ولایت او ولسوالیو په کچه د عملیاتي پلانونو تحلیل، انسجام او توحیدول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې کلنی عملیاتي پلان د پوهنې وزارت له منظوري وروسته پوهنې ریاست ته د تطبیق په موخه را لیږل شوی او بیا د ۷ ولسوالیو او ۵ برنامو په کچه ویشل شویدي.

**۵,۹ فعالیت: د لوګر ولایت په کچه د ښوونیرو مرکزونو د جوړولو د ملي پلان تحلیل، انسجام او توحیدول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د ولایت په کچه عملیاتي پلان د پوهنې ریاست اړوند د پلان عمومي مدیریت له لوري جوړ او په خپل وخت د پوهنې وزارت ته لیږدول شوی.

**۵,۱۰ فعالیت: د لوګر ولایتي کچه د انکشافي پروژو د کانسپت نوټونو تحلیل، انسجام او توحیدول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې ۱۹ هغه ښوونځي چې ځمکه لري او تعمیر ته ضرورت لري د پلان عمومي مدیریت له لوري د کانسپټ نو تونه ترتیب او اړوند اداري ته لیږل شوي دي.

**۵,۱۱ فعالیت: د پوهنې وزارت د پنځه کلن ملي پلان تسوید او د مشورې او نظر غوښتلو په موخه د لوګر ولایت د پوهنې ریاست سره شریکول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د پوهنې ریاست برنامو په شمول د ۷ اداري واحدونو څخه د نوموړي مسودې په اړه نظریات را ټول او د پوهنې وزارت د پلان ریاست ته واستول شول.

**۵,۱۲ فعالیت: دلوګر ولایت پوهنې رئیس او د برنامو او ولسوالیو پوهنې آمرینو د کاري پلانونو تحلیل او انسجام؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د پوهنې د رئیس کاري پلان ترتیب شوی او د منظورۍ په موخه د پلان ریاست ته رسماً استول شوی دی، د عمومي زده کړو د آمر، د څرخ، برکی برک، محمداغه، خوشي، ازره او ښاري پوهنې آمر او د ریاست دفتر عمومي مدیر کاري پلانونه د منظوري څخه وروسته رسماً خپلو اړوندو مراجعوته لیږل شوي دي.

**۵,۱۳ فعالیت: د پوهنې وزارت تر چتر لاندې لوګر ولایت واحدونو د عادي او انکشافي بودیجې د مالي فعالیتونو او کړنو څخه پلټنه او کتنه او د قوانینو مراعتول**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د پادخواب روغني ښځینه مکتب برکي راجان ذکور لیسه حمیدالله فاروقي لومړنی ښوونځی چې ټولټال ۵۰ بابه تعلیمي مرکزونه کیږي د مسلکي غړو له لوري برسي شوي دي.

**۵,۱۴ فعالیت: د عدلي او قضایي ارګانونو د قرار کشفي ځانګړو قضایاؤ بشپړول او د پوهنې وزارت تر اغیز لاندې واحدونو، بهرنیو ادارو او اشخاصو لخوا د وړاندې شویو شکایتونو او راپورونو کتنه؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د بي بي عایشې اناثو لیسې، ملالۍ اناثو لیسې او ټوپک لیسې ټولټال ۶ ځانګړې موضوعات بررسي شوي دي.

**۵,۱۵ فعالیت: په لوګر ولایت کې د مختصر نصاب تدریس، د کارکوونکو څخه د ازموینې اخیستل او د اصلاحي پروګرامونو پلي کول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې ۴۰۷۶ تنو کارکوونکو ته د مرکز او ولسوالیو په کچه مختصر نصاب تدریس شوی دی.

**۵,۱۶ فعالیت: د لوګر ولایت کارکوونکو ته د اسلامي شریعت د احکامو سره سم توصیه او د هغوی د صورت او سیرت اصلاح او د اسلامي امارت د پالیسۍ پربنسټ د اولوالامر اطاعت کول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د مرکز او ولسوالیو په کچه ۴۰۷۶ تنه کارکوونکو ته د صورت او سیرت د اصلاح په موخه د شریعت د احکامو مطابق توصیه ورکړل شوې ده.

## دریمه برخه

### د غیر پلاني فعالیتونو او لاسته راوړنو برخه

د لوګر ولایت مربوطه پوهنې آمریت اړوند په تعداد ۷۴۴ تبلیغاتي صحي پوسترې ښوونځیو ته ویشل شوي دي.

د لوګر ولایت مرکز مربوطه پوهنې آمریت اړوند په تعداد ۶۹۷۲ ټوکه صحي کتابونه ۴۱ بابه ښوونځیوته ویشل شوي دي.

د لوګر ولایت ازرې پوهنې آمریت اړوندپه تعداد ۹ شوراګانې نوي ایجاد شوي دي.

## څلورمه برخه

## تحلیل او پایلې

| شمېره | فعالیتونه | شاخصونه | کلنۍ موخه | کمي پرمختګ | د پرمختګ سلنه | د فعالیت حالت: بشپړ شوی | د فعالیت حالت: تر کار لاندې | د فعالیت حالت: نا پیل شوی | د فعالیت حالت: ځنډول شوی | د بشپړ شویو فعالیتونو پایلې | نا پیل شویو، ځنډول شویو نه بشپړ شویو فعالیتونو لاملونه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| **لومړۍ برخه: کیفیت او تړاو** | | | | | | | | | | | |
| **۱. ښوونه او روزنه** | | | | | | | | | | | |
| ۱.۱ | د عمومي زده کړو، اسلامي زده کړو او سواد زده کړې د اړتیاوو د ارزونې موندنو پر بنسټ د ښوونیزو موادو پراختیا؛ | د سواد زده کړو د څارل شوو کورسونو شمېر | ۲۸ | ۷۰ | + ۱۰۰٪ | √ | | | | د یاد فعالیت سره به د تدریس کیفیت کې ښه والی راشي. | |
| ۱.۲ | د لوګر ولایت په کچه د علمي غږو (مربیانو) ظرفیت لوړل؛ | د مرکزي ټیم لخوا د روزل شوو ولایتي علمي غړو شمېر | ۱۳ | ۱۲ | ۹۲٪ | | √ | | | | |
| | | د ولایتي ټیمونو لخوا د ولسوالیو په کچه د روزل شوو علمي غړو شمېر | ۴۸ | ۳۶ | ۷۵٪ | | √ | | | | |
| ۱.۳ | د علمي افکارو، مسؤلیت منلو او ښه چلند په برخه کې په لوګر ولایت کې د ښوونکو، مدیرانو او د ښوونځیو د اداري شوراګانو او علمي غړو لپاره د ظرفیت لوړولو د پروګرامونو ترتیبول؛ | د روزل شوو علمي غړو شمېر | ۶۱ | ۵۰ | ۸۳٪ | | √ | | | | |
| ۱.۴ | کارکوونکو ته د جواز ورکولو د سیستم د پلي کیدو په موخه لازم | د جواز ورکولو سیستم د معرفي کولو په برخه کې د | ۶۱ | ۰ | ۰٪ | | | √ | | | د جواز ورکولو آمریت ۴۴۶ مکتوب په اساس تر اوسمهاله |

| | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | چمتوالی؛ | روزل شوو کارکوونکو شمېر | | | | | | | | | کومه لایحه او ګړنلاره نه ده نهایي شوې |
| ۱.۵ | د لابراتوارنو د اړتیاوو معلومولوپاره سروې او په لوګر ولایت کې د ترسره شوو پروګرامونو حمایوي څارنه؛ | د سروې اوحمایوي ترسره شوې څارنې شمېر | ۱ | ۱۸۲ | ۱۰۰٪ | √ | | | | تجربې په سم ډول په خپل وخت ترسره شوي دي | |
| ۱.۶ | د لابراتوارونو او کمپیوټرونو اغیزمنتوب او کارولو څخه څارنه او لیدنه؛ | د ترسره شوو کتنو شمېر | ۱ | ۱۸۲ | ٪۱۰۰ | √ | | | | لابراتوارونه او کمپیوټرلیونه منظم شوي دي | |
| ۱.۷ | د ساینس ولایتي مدیریتونو علمي غړو او لابرانت لپاره د ساینس، ریاضي او کمپیوټر برخه کې د روزنیزو پروګرامونو تنظیمول؛ | د روزل شوو علمي غړو شمېر | ۹ | ۲۱۶ | ٪۱۰۰ | √ | | | | روزل شوي کسانو مشکلات په خپله برخه کې حل شوي دي | |
| ۱.۸ | د مسلکي غړو له خوا لوګر ولایت کې د ریاست د تخنیکي غړو لخوا د واش (WASH) Dewormin په برخه کې د څارونډی د ټروپ ګروپونو او بدني روزنې ښوونکو لپاره د سیمینارونو او ورکشاپونو دایرول؛ | د دایرشوو ورکشاپونو شمېر | ۱ | ۴۰ | ٪۱۰۰ | √ | | | | روزل شوي کسانو مشکلات په خپله برخه کې حل شوي دي | |
| | | د بدني روزنې د مسلکي او غیر مسلکي روزل شوو ښوونکو شمېر | ۱۰ | ۱۰ | ٪۱۰۰ | √ | | | | | |
| | | د اصول صنفي روزل شوو ښوونکو شمېر | ۴ | ۰ | ٪۰ | | | √ | | | یاد فعالیت د بودیجې نشتون له امله نه دی تر سره شوی. |
| | | د روغتیا په برخه کې د ښوونکو، مدیرانو، آمرینو او مسلکي روزل شوو غړو شمېر | ٦٥ | ۵۵ | ۸۵٪ | | √ | | | | |
| | | د روغتیا په برخه کې له روزنو د برخمن شویو زده کوونو او ښوونکو شمېر | ٦۰۰ | ٦۰۰ | ٪۱۰۰ | √ | | | | روزل شوي کسانو مشکلات په خپله برخه کې حل شوي دي | |
| ۱.۹ | د ځاني ارزونې له مخې د قابلیتونو د ارزونې په برخه کې د لوګر ولایت د لازم ظرفیت رامنځته کول او د سواد | تر پوښښ لاندې ولایتونو شمېر | ۱ | ۰ | ٪۰ | | | √ | | | نوموړی فعالیت د پوهنې وزارت له لورې نه دی ترسره شوی. |

| | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | زده کړې د پروګرامونو د کیفیت د ښه والي لپاره د لازمو لارښوونو ترتیبول او ملي کول؛ | | | | | | | | | | |
| ۱.۱۰ | د لوګر ولایت په کچه د سواد زده کړو د پروګرامونو د ښه تطبیق په موخه، د ترتیب شویو لایحو، طرزالعملونو او لارښودونو د معرفي په هکله د روزنیز ورکشاپ په لاره اچول؛ | د روزل شوو ګډونوالو شمېر | ۲ | ۰ | ٪۰ | | | √ | | | نوموړی فعالیت د پوهنې وزارت له لورې نه دی ترسره شوی. |
| ۱.۱۱ | د سواد زده کړې پروګرام د پلي کولو لپاره د سرچینو تشخیص او ترلاسه کول، د دولتي، غیر دولتي بنسټونو او رضاکارانو ملاتړ ترلاسه کول؛ | د تشخیص شویو او جلب شویو بشري سرچینو شمېر | ۷ | ۰ | ٪۰ | | | √ | | | د پوهنې وزارت او یا کومې دولتي او غیر دولتي بنسټ له لوري نوموړی فعالیت په لوګر ولایت کې نه دی تر سره شوی. |
| | | د ترلاسه شوي بودجې اندازه (افغانی) | ۱۴۰۰۰ | ۰ | ٪۰ | | | √ | | | |
| ۱.۱۲ | د سیمه ییزو خلکو (رضا کارانو) له لاري لوګر ولایت په کچه د ولایتونو د پوهنې په ریاستونو کې د کلیو د سواد زده کړې کمېټو د غونډېو جوړول؛ | د سواد کمېټو د ترسره شویو غونډېو شمېر | ۳۰ | ۱۴۶ | +٪۱۰۰ | √ | | | | ډېر کسان د سواد له نعمت څخه برخمند شوي دي | |
| ۱.۱۳ | د خصوصي ښوونځیو د قانوني اسنادو د تطبیق څارنه او د جواز ورکولو پروسې اسانتیا او چټکتیا همدارنګه، د شرایطو تحلیل او په هغو ولایتونو کې چې له لسو څخه کم خصوصي ښوونځي شتون لري، د پوهنې په برخه کې د خصوصي سکتور د مشارکت لپاره د زمینې برابرول؛ | د کتل شوو ولایتونو شمېر | ۱ | ۰ | ٪۰ | | | √ | | | یاد فعالیت د پوهنې وزارت له لورې نه دی تر سره شوی. |

## ۲. اسلامي زده کړې

| | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۲.۱ | دارالعلوم ته د مدرسو لوړول؛ | دارالعلوم ته د ارتقاء شویو مدرسو شمېر | ۱ | ۰ | ٪۰ | | | √ | | | تر اوسه پورې کومې مدرسې وړاندیز نه دی کړی. |
| ۲.۲ | د طالب العلمانو او زده کړیالانو ترمنځ د علمی سیالیو په لاره اچول؛ | په پروګرام کې د ګډون کوونکو شمېر | ۵۰۰ | ۱۱۰ | ٪۲۲ | | √ | | | | |
| ۲.۳ | د دارالعلومونو د اداري او تدریسي چارو د بیا کتنې او ارتقاؤ معلوملو په موخه د علمي او تدریسي غړو لیږل؛ | د معلوم شویو اړتیاؤ شمېر | ۲۲۸ | ۵ | ٪۲ | | √ | | | | |
| | | د کتل شویو او بررسی شویو دارالعلومونو شمېر | ۵۷ | ۲ | ٪۳ | | √ | | | | |
| ۲.۴ | په لوګر ولایت کې د نویو مقرر شویو کارکوونکو د ظرفیت لوړولو په موخه د لارښوونې سیمینارونو دایرول؛ | د ولایتي دایر شویو سیمینارونو شمېر | ۱ | ۳ | ٪۱۰۰ | √ | | | | نویو مقرر شویو کارکوونکو ته کاري وړتیا ترلاسه شوې | |
| ۲.۵ | په لوګر ولایت کې د اسلامي زده کړو اړوند مدرسو او دارالحفاظونو د اداري او تدریسي کارونو د بیاکتنې او اړتیاؤ معلوملو په موخه د علمي او تدریسي غړو ورلیږل؛ | د معلوم شویو اړتیاؤ شمېر | ۲۲۸ | ۰ | ٪۰ | | | √ | | | د مسلکي غړو د کمبود له امله نوموړی فعالیت نه دی تر سره شوی |
| | | د کتل شویو مدرسو او دارالحفاظونو شمېر | ۵۷ | ۱۱۱ | + ٪۱۰۰ | √ | | | | دیاد فعالیت په اجرا سره به د تدریس په کیفیت کې مثبت تغیر راشي. | |
| ۲.۶ | په شته ډیټابیس کې د علماء کرامو د ازموینو ثبتول؛ | د ثبت شویو علماء کرامو شمېر | ۵۱۴ | ۲۷۰ | ٪۵۲ | √ | | | | | |
| ۲.۷ | په لوګر ولایت کې د مدرسو او دارالحفاظونو استادانو ته د نویو درسي کتابونو د ورپیژندلو په موخه د ورکشاپ دایرول؛ | د روزل شویو ښوونکو شمېر | ۳۳ | ۴۳ | + ٪۱۰۰ | √ | | | | د یاد فعالیت په اجرا سره به د ښوونکو تدریسی مهارت او تجربه زیاته شي. | |
| ۲.۸ | د مدرسو فارغین په عالیه او عالمیه ازموینو کې ثبتول. | د ثبت شویو فارغانو شمېر | ۵۷ | ۰ | ٪۰ | | | √ | | | د نوموړي فعالیت په اړه د چا لخوا مراجعه نه ده شوې |
| **۳. د کیفیت تضمین** | | | | | | | | | | | |
| ۳.۱ | د لوګر ولایت او ولسوالیو په کچه د کیفیت لرونکو احصاییوي ارقامو | د ولایتونو په کچه د دایر شویو ورکشاپونو شمېر | ۱۲ | ۱۲ | ٪۱۰۰ | √ | | | | کارکوونکو ته کاري وړتیا ترلاسه شوې | |

| | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | راپوللو په موخه د ظرفیت لوړونې ورکشاپونو په لاره اچول؛ | | | | | | | | | | |
| ۳.۲ | د لوګر ولایت په کچه د ۱۴۰۲ هـ ش کال احصاییوِي ارقامو ۱۰٪ کتنه او تصدیق؛ | د ارقامو د تصدیق شویو راپورونو شمېر | ۱ | ۱ | ۱۰۰٪ | √ | | | | د نوموړي فعالیت په اجرا سره به د شاګردانو دقیق احصایه معلوم شي. | |
| ۳.۳ | د ډیټاسیټونو، ولایتي پروفایلونو، د احصایې او معلوماتو تحلیلي کتابونو او پوهنې اطلس په بڼه د ۱۴۰۲ هـ ش کال د احصایې ترتیبول او د نشراتو ریاست ته استول؛ | نشراتو ریاست ته د لېږل شویو پروفایلونو شمېر | ۱ | ۱ | ٪۱۰۰ | √ | | | | له دې څخه به پوهنې وزارت او نور تمویلونکي ګټه واخلي. | |
| ۳.۴ | د ډیټاسیټونو، ولایتي پروفایلونو، د احصایې او معلوماتو تحلیلي کتابونو او پوهنې اطلس په بڼه د ۱۴۰۳ هـ ش کال د احصایې ترتیبول او د نشراتو ریاست ته استول؛ | نشراتو ریاست ته د استول شویو پروفایلونو شمېر | ۱ | ۰ | ٪۰ | | | √ | | | دا فعالیت په ۱۴۰۴ کال کې د اجرا وړ دی |
| ۳.۵ | د نویو تاسیس شویو او تېرو کلونو د پاتې ښوونځیو د مختصاتو راټولول؛ | د مختصاتو د راټولولو په موخه د پلان شویو روزنیزو مرکزونو شمېر | ۲۲۸ | ۰ | ٪۰ | | | √ | | | د EMIS سیستم مربیانو تشریف ندی راوړی دې ریاست ته |
| ۳.۶ | د بري لیکونو/شهادتنامو ترتیب، تدقیق، طی مراحل او وېشل؛ | په ګروپي بڼه د وېشل شویو بري لیکونو شمېر | ۲۷۰ ۶ | ۳۸۷۵ | + ۱۰۰٪ | √ | | | | د دې فعالیت په اجرا سره به شاګردانو له خپلو حقوقو څخه برخمن شي. | |
| ۳.۷ | د ولایتونو پوهنې ریاستونو ته د سپینو بري لیکونو/شهادتنامو وېشل؛ | د سپینو وېشل شویو بري لیکونو شمېر | ۲۵۰ ۰ | ۳۹۰۳ | + ۱۰۰٪ | √ | | | | د یاد فعالیت په اجرا سره به په خپل وحت بري لیکونه ویشل کیږي. | |
| ۳.۸ | د دولسم او څوارلسم ټولګیو د فارغانو د نتایجو جدولونو تدقیق، | د دولتي ښوونځیو د پایلو د تایید شویو جدولونو شمېر | ۷۴ | ۱۰۹ | + | √ | | | | په دې سره زده کوونکي د خپلو حقوقو څخه | |

| | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | تطبیق او تاییدول؛ | | | | ۱۰۰٪ | | | | | برخمن شي. | |
| | | د خصوصي ښوونځیو د پایلو د تایید شویو جدولونو شمېر | ۸ | ۱۴ | ۱۰۰٪ | √ | | | | په دې سره زده کوونکي د خپلو حقوقو څخه برخمن شي. | |
| | | د سامع فارغانو د پایلو د تایید شویو جدولونو شمېر | ۴۹ | ۳۲۵ | ۱۰۰٪ + | √ | | | | | |
| ۳.۹ | د څارنې، ارزونې او راپور ورکولو په برخه کې فردي او نهادي ظرفیت لوړونه؛ | د څارنې، ارزونې او راپور ورکولو په برخو کې د روزل شویو کارکوونکو شمېر | ۱۴ | ۴۳ | ۱۰۰٪ | √ | | | | د څارنې،ارزونې او راپور ورکولو برخه کې شته ستونزې حل شوي دي | |
| ۳.۱۰ | د لوګر ولایت پوهنې ریاست د فعالیتونو او پلانونو له تطبیق څخه ربعواره څارنه؛ | د ولایتونو د څارل شویو پوهنې ریاستونو شمېر | ۱ | ۱ | ۱۰۰٪ | √ | | | | فعالیتونه او پلانونه به منظم تطبیق شي | |
| ۳.۱۱ | د لوګر ولایت پوهنې ریاست اړوند د پوهنې وزارت د همکارو مؤسسو له پروژو څخه څارنه؛ | د ولایتونو د پوهنې په برخه کې د اړوند مؤسسو د څارل شویو پروژو څخه د ترتیب شویو توحیدي راپورونو شمېر | ۱ | ۴ | ۱۰۰٪ | √ | | | | همکارې مؤسسې په سم ډول خپل فعالیتونه ترسره کړي | |
| ۳.۱۲ | د عملیاتي پلان له تطبیق څخه د څارنې او ارزونې په موخه د راپور ورکولو سیستم استفاده کول؛ | د ولایتونو شمېر چې راپورونه یې د استفادې وړ ګرځېدلي | ۱ | ۱ | ۱۰۰٪ | √ | | | | راپورونه په خپل وخت چمتو او پوهنې وزارت ته استول شوي دي. | |
| ۳.۱۳ | د عملیاتي پلان د راپور ورکولو آنلاین سیستم پراختیا او تطبیق؛ | د ولایتونو شمېر چې سیستم پکې فعال او تطبیق شوی دی | ۱ | ۱ | ۱۰۰٪ | √ | | | | په دې سره به د راپورونو په برخه کې اسانتیا رامنځ ته شي. | |
| ۳.۱۴ | د چمتو شوي فارمټ سره سم، د ولایتونو په کچه د پلانونو د پرمختګ او لاسته راوړنو ربعوار راپورونو راټولول؛ | د ربعوار راټولو شویو راپورونو شمېر | ۴ | ۴ | ۱۰۰٪ | √ | | | | په خپل وخت سره د کارونو سرته رسول. | |

| | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۳.۱۵ | د متعلمينو د چارو، په ښوونه او روزنه کې د والدينو د ونډې، ساينس په پوهنه کې، خصوصي زده کړو او د پلټنې پاليسيو پراختيا؛ | د نظر غوښتنې سلنه | ۱۰۰ ٪ | ۰ | ۰٪ | | | √ | | | د وسايطو او امکاناتو برا برول |
| ۳.۱۶ | د کيفيت تضمين او د غير حضوري زده کړو د پاليسيو بيا کتنه؛ | د نظر غوښتنې سلنه | ۱۰۰ ٪ | ۰ | ۰٪ | | | √ | | | ياد فعاليت د پوهنې وزارت مربوط دی. |
| ۳.۱۷ | د لوګر ولايت په کچه د تقنيني اسنادو او پاليسيو د تطبيق د وړتيا ارزونه او تجربوي تطبيق؛ | د ترسره شويو کړنو سلنه | ۱۰۰ ٪ | ۰ | ۰٪ | | | √ | | | دا فعاليت مرکزي دی |
| ۳.۱۸ | د لوګر ولايت په کچه د تقنيني سندونو او پاليسيو په برخو کې د کارکوونکو روزل او ظرفيت لوړونه؛ | د تطبيق شويو روزنيزو پروګرامونو سلنه | ۱۰۰ ٪ | ۰ | ۰٪ | | | √ | | | دا فعاليت مرکزي دی |
| **۴. سرچيني او اداره** | | | | | | | | | | | |
| ۴.۱ | د ۱۴۰۲ کال د لګول شوې بودیجې له څرنګوالي څخه څارنه او همدارنګه لوګر ولايت مالي کړنو په برخه کې لارښوونه کول؛ | تر پوښښ لاندې ولايتونو شمېر | ۱ | ۱ | ٪۱۰۰ | √ | | | | د بيجايه او بې پايدې استعمال څخه د بوديجې مخنيوی | |
| ۴.۲ | د لوګر ولايت په کچه د مالي چارو په برخه کې د کارکوونکو د ظرفيت لوړول؛ | د ولايتونو په کچه د روزل شويو کارکوونکو شمير | ۵ | ۲ | ۴۰٪ | | √ | | | | |
| ۴.۳ | دلوګر ولايت د اداري کارکوونکو له پاره د ظرفيت لوړولو د استراتيژی طرحې جوړول؛ | د پرمختګ سلنه | ۱۰۰ ٪ | ۱۰۰ | ۱۰۰٪ | √ | | | | د ياد فعاليت په اجرا سره به د اداري کارکوونکو اداري ظرفيت لوړشي. | |
| ۴.۴ | د لوګر ولايت په کچه د کارکوونکو د سوانحو دفترونو تدقيق، تصحيح، تطبيق او بربښنايي کول؛ | د پرمختګ سلنه | ۱۰۰ ٪ | ۱۰۰ | ۱۰۰٪ | √ | | | | د ياد فعاليت په اجراسره به د دولتی کارکوونکو سوانحو څخه ښه ساتنه وشي | |
| ۴.۵ | د مدرسو او ښوونځيو د ودانولو لپاره د ځمکو انتقال په اړه د | د تعقيب شويو احکامو شمير | ۲ | ۲ | + ۱۰۰٪ | | √ | | | د ياد فعاليت په اجرا سره به د مدارسو او ښوونځيو | |

| | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | امیرالمؤمنین حفظه الله او محترم ریاست الوزراء فرامینو، لارښوونو او احکامو تعقیب کول؛ | | | | | | | | | موقعیت په ډاکه شي. | |
| ۴.٦ | د لوګر ولایت په کچه د مدرسو او ښوونځیو د جایدادونو له پاره د ملکیت سندونو جوړول؛ | د ترتیب شویو اسنادو شمېر | ۱۵ | ۴ | ۲۷٪ | | √ | | | | |
| ۴.۷ | د لوګر ولایت په کچه د اداري ځایونو او روزنیزو مرکزونو د ودانیو، ترمیمولو او احاطو سجل کول؛ | د سجل شویو ودانیو شمېر | ۱۰ | ۱۳ | ۱۰۰٪ | √ | | | | په دې سره به د ودانیو ساتنه او حفاظت وشي. | |
| | | د روزنیزو مرکزونو د احاطوي سجل شویو دیوالونو شمېر | ۵ | ۱۳ | ۱۰۰٪ | √ | | | | | |
| | | د ترمیم شویو سجل شویو روزنیزو مرکزونو شمېر | ۴ | ۱۹ | ۱۰۰٪ | √ | | | | | |
| ۴.۸ | د املاکو په دفترونو او معلوماتي سیستم کې د ملکیتونو د سندونو او سجلو ثبتول او د هغو فایلبندي؛ | د ملکیت د ثبت شویو سندونو شمېر | ۱۵ | ۳ | ۲۰٪ | | √ | | | | |
| | | د ثبت شویو سجلو شمېر | ۴۲ | ۱۲ | ٪۲۹ | | √ | | | | |
| ۵. پوهنې ریاست اړوند فعالیتونه (نشرات، تفتیش، پلان، مخابره او نور) | | | | | | | | | | | |
| ۵.۱ | د امیرالمؤمنین د فرمانونو او د ریاست الوزرا، وزیرانو شورا او پوهنې وزارت مشرتابه له حکمونو او لارښوونو څخه د ډاډ تر لاسه کولو په موخه سفر تر سره کول؛ | ولایتونو شمېر | ۱ | ۰ | ۰٪ | | | √ | | | د فرا مینو،احکامو او لارښوونو د اطمینان او ډاډ په اړه کوم هیئت لوګر ولایت پوهنې ریاست ته سفر نه دی کړی. |
| ۵.۲ | د عامه پوهاوي او چاپي خپرونو چاپ او ویش؛ | په ولایتي کچه د عرفان د وېشل شویو مجلو شمېر | ۸۰۰ | ٦۰ | ٪۸ | | √ | | | | |
| | | په ولایتي کچه د بخوان و بیندیش د وېشل شویو مجلو شمېر | ۸۰۰ | ٦۰ | ٪۸ | | √ | | | | |
| | | په ولایتي کچه د پوهنې د وېشل شویو اوونیزو شمېر | ۱٦۰۰ | ۹۵۰ | ۵۹٪ | | √ | | | | |
| | | په ولایتي کچه د وېشل شوې کلیزې شمېر | ۴۰ | ۱۵ | ٪۳۷ | | √ | | | | |

| | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | د ولایتونو له پاره د چاپ شویو او وېشل شویو بروشورونو شمېر | ۱٦۰ | ۰ | ۰٪ | | | √ | | | د پوهنې وزارت څخه ندي را لیږل شوي. |
| ۵.۳ | د پوهنې د یوکلنې کړنې په هکله د کتابونو چاپ؛ | د ولایتونو له پاره د چاپ شویو او وېشل شویو کتابونو شمېر | ۴۰ | ۱۵ | ۳۷٪ | | √ | | | | |
| ۵.۴ | د لوګر ولایت ولسوالیو او ښوونځیو په کچه د درسي کتابونو د ویشلو له پروسې څخه تخنیکي کتنه؛ | د کتل شویو ولایتونو شمېر | ۱ | ۰ | ۰٪ | | | √ | | | د اطمینان او ډاډ په اړه کوم هیئت یا کومې مرجع سفر لا نه ده کړی. |
| | | د کتل شویو ولسوالیو شمېر | ۲ | ۲ | ۱۰۰٪ | √ | | | | مشکلا تو او مهمو لارښوونو ته په وخت رسیدنه. | |
| | | د کتل شویو ښوونځیو شمېر | ۴ | ۲۵ | ۱۰۰٪ | √ | | | | | |
| ۵.۵ | تر پوښښ لاندې د لوګر ولایت د پوهنې ریاست د اسلامي زده کړو مرکزونو ته (دارالعلومونو او دارالحفاظونو) د ۱۸۵۱۴ ټوکه درسي کتابونو چاپ او ویش؛ | دارالعلومونو ته د وېشل شویو کتابونو شمېر | ۱۸۵ ۱۴ | ۱۸۵۱۴ | ۱۰۰٪ | √ | | | | د یاد کتابونو په چاپ او ویش سربه د دارالعلومونو اودارالحفاظونوشاګردانو مشکلات حل شي. | |
| ۵.٦ | د لوګر ولایت په کچه په پښتو او دري ژبه د سواد زده کړې د ۲۴۰۰ ټوکه درسي کتابونو چاپ او ویش؛ | د وېشل شویو درسي کتابونو شمېر | ۲, ۴۰۰ | ۰ | ۰٪ | | | √ | | | د پوهنې وزارت څخه ندي را لیږل شوي. |
| ۵.۷ | د بدني روزنې د ښوونکو د لارښود د ۷۰۴ ټوکه درسي کتابونو ویش؛ | د وېشل شویو درسي کتابونو شمېر | ۷۰۴ | ۰ | ۰٪ | | | √ | | | د پوهنې وزارت څخه ندي را لیږل شوي. |
| ۵.۸ | په لوګر ولایت کې د استهلاک شویو کتابونو د لیلام چارو تعقیبول او د ولایتونو د نشراتو مدیرانو له لورې د کارونو د پراوونو بشپړول؛ | د ولایت په کچه د لیلام شویو کتابونو شمېر | ۱ | ۰ | ۰٪ | | | √ | | | تر اوسه پورې د کتابونو د لیلام په اړه کومه کړنلاره نه دراغلې |
| ۵.۹ | د پلټنې په برخه کې د لوګر ولایتي کارکوونکو لپاره د روزنیزو پروګرامونو په لاره اچول؛ | د روزل شویو ولایتي کارکوونکو شمېر | ۴ | ۰ | ۰٪ | | | √ | | | یاد فعالیت د پوهنې وزارت له لورې نه دی تر سره شوی. |

| | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۵.۱۰ | د اړونده پروګرامونو د رسولو په موخه ولایتونو ته د دعوت او ارشاد ریاست د کارکوونکو سفر کول. | د پلان شویو سفرونو شمېر | ۲ | ۱ | ٪۵۰ | | √ | | | | |
| دویمه برخه: انډولیز لاسرسی | | | | | | | | | | | |
| ۱. ښوونه او روزنه | | | | | | | | | | | |
| ۱.۱ | د لوګر ولایت په کچه د ښوونکو د مسلکي پراختیا په موخه د اړونده پروګرامونو د تطبیق له څرنګوالي څخه څارنه؛ | تر پوښښ لاندې ولایتونو شمېر | ۱ | ۰ | ۰٪ | | | √ | | | نوموړی فعالیت د پوهنې وزارت له لوري نه دی تر سره شوی. |
| ۱.۲ | د لوګر ولایت په کچه د تړل شویو ښوونځیو د بیا پرانستلو او برخلیک ټاکلو په اړه لازم اقدامات؛ | د پرانستل شوو ښووونځیو شمېر | ٦ | ۰ | ۰٪ | | | √ | | | د بودیجې نشتون له امله یاد فعالیت نه دی تر سره شوی. |
| ۱.۳ | د فزیک، کیمیا، بیولوژي، ریاضي او محیطي ساینس په برخو کې د شته کمپیوټر لبو او لابراتوارونو تجهیزول او رامنځته کول؛ | د تجهیز شوو لابراتوارونو شمېر | ۳ | ۳ | ۱۰۰٪ | √ | | | | په عملي توګه د شاګردانو پوهول | . |
| | | د تجهیز شوو کمپیوټرلب شمېر | ۱ | ۰ | ۰٪ | | | √ | | د بودیجې نشتوالی | |
| ۱.۴ | په دولتي ښوونځیو کې د لوګر ولایت په کچه د ۱٦۱۵٦ جدیدالشمول زده کوونکو جذبول؛ | دنارینه جذب شوو جدیدالشموله شمېر | ۱۰۵ ۸۷ | ۱۰۵۹۱ | ۱۰۰٪ | √ | | | | په ټولنه کې د سواد کچه لوړیدل | |
| | | د ښځینه جذب شوو جدیدالشموله شمېر | ۵۵٦ ۹ | ۵۸۴۵ | ۱۰۰٪ | √ | | | | | |
| ۱.۵ | د لوګر ولایت په کچه د ۴ بابه نویو ښوونځیو تأسیس؛ | د تأسیس شوو ښوونځیو شمېر | ۴ | ۲ | ۵۰٪ | | √ | | | | |
| ۱.٦ | په لوګر ولایت کې د اړوندو ادارو سره د پخوانی همغږی پر بنسټ د لومړني ښوونځي منځني ښوونځیو ته او منځني ښوونځي لیسو ته لوړول؛ | له لومړنیو څخه منځنیو ښوونځیو ته د لوړ شوو نارینه ښوونځیو شمېر | ۲ | ۰ | ۰٪ | | | √ | | | تر اوسه پورې څوک نه دي عارض شوي. |
| | | له لومړنیو څخه منځنیو ښوونځیو ته د لوړ شوو ښځینه ښوونځیو شمېر | ۱ | ۰ | ۰٪ | | | √ | | | |

| | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | له لومړنیو څخه منځنیو ښوونځیو ته د لوړ شوو مختلط ښوونځیو شمېر | ۱ | ۰ | ۰٪ | | | √ | | | |
| | | له منځني څخه لیسې دورې ته د لوړ شوو نارینه ښوونځیو شمېر | ۲ | ۴ | ۱۰۰٪ | | √ | | | شاګردانو د تعلیم زمینه برابرول | |
| | | له منځني څخه لیسې دورې ته د لوړ شوو ښځینه ښوونځیو شمېر | ۱ | ۰ | ۰٪ | | | √ | | | تر اوسه پورې څوک نه دي عارض شوي. |
| | | له منځني څخه لیسې دورې ته د لوړ شوو مختلط ښوونځیو شمېر | ۲ | ۰ | ۰٪ | | | √ | | | |
| ۱.۷ | جلا کول، د نوم بدلول، ادغام، د جنسیت بدلون، د اقلیم بدلون او په لوګر ولایت کې له یوه ځای څخه بل ځای ته د ښوونځیو انتقال؛ | د تجزیه شوو نارینه ښوونځیو شمېر | ۱ | ۰ | ۰٪ | | | √ | | | تر اوسه پورې د چا لخوا غوښتنه نه ده شوې. |
| | | د هغودولتی ښوونځیو شمېر چې نوم یې بدل شوی | ۱ | ۰ | ۰٪ | | | √ | | | |
| | | د هغو خصوصي ښوونځیو شمېر چې نوم یې بدل شوی | ۲ | ۰ | ۰٪ | | | √ | | | |
| | | د مدغم شوو ښوونځیو شمېر | ۱ | ۰ | ۰٪ | | | √ | | | |
| | | د هغو ښوونځیو شمېر چې جنیست یې بدلون موندلی | ۱ | ۰ | ۰٪ | | | √ | | | |
| | | د دولتي لیږدول شوو ښوونځیو شمېر | ۱ | ۰ | ۰٪ | | | √ | | | |
| ۱.۸ | د لوګر ولایت پوهنې ریاست او اړوندو ادارو سره د ښوونځیو جوړولو د پروژو (د احاطې دیوال، احاطې او د پاکو اوبو څاه ګانو) په برخو کې همغږي؛ | د همغږه شوو ساختماني پروژو شمېر | ۲ | ۷ | ۱۰۰٪ | √ | | | | زده کوونکو ته د زده کړې ښه زمینه برابریري | |
| ۱.۹ | له بهر څخه راستانه شویو او | ولایتونو ته د راستنیدونکو | ۳۰۰ | ۴۰ | ۱۳٪ | | √ | | | | |

| | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | مجاهدینو د اړتیاوو او غوښتنو سره سم د ټولګیو تثبیتول؛ | غوښتونکو شمېر | | | | | | | | | |
| | | په ولایاتو کې د مجاهدینو متقاضیانو شمېر | ۳۰۰ | ۵۹۷ | +۱۰۰٪ | √ | | | | پدې سره مجاهدین له زده کړو څخه برخمن شي. | |
| ۱.۱۰ | د مرستندویه موسسو په همکارۍ په لوګر ولایت کې د سیمه ایزو او چټکو زده کړو ټولګیو جوړول؛ | د تسریعي زده کړو د ایجاد شوو ټولګیو شمېر | ۱۸ | ۰ | ۰٪ | | | √ | | | یاد فعالیت ځکه نه دی اجراء شوی چې مرستندویه موسسو همکاري نه ده کړې. |
| | | د سیمه ایزو زده کړو د ایجاد شوو ټولګیو شمېر | ۱۰۰ | ۰ | ۰٪ | | | √ | | | |
| ۱.۱۱ | د ځارندوي ټیمونو، ترافیک او اور وژنې ټیمونو رامنځته کول او فعالول؛ | د ترافیک او اطفائیه ایجاد شوو ټیمونو شمېر | ۲ | ۱۱۰ | ۱۰۰٪+ | √ | | | | زده کوونکو ته آرام درسي محیط برابریږي او د زده کوونکو په علمي ورتیاؤ مستقیم اثر لري | |
| | | د ځارندوی ایجاد شوو ټیمونو شمېر | ۲ | ۳۰ | ۱۰۰٪ + | √ | | | | د ښوونځي نظم برابریږي او زده کوونکو ته د زده کړې ښه زمینه برابریږي | |
| ۱.۱۲ | د سواد د اهمیت په اړه د عامه پوهاوي د لوړولو په موخه د پروګرامونو تنظیمول؛ | د سواد د نړیوالې ورځې په مناسبت د دایر شوو محفلونو شمیر | ۱ | ۰ | ۰٪ | | | √ | | | د بودیجې نشتون له امله یادې کړنې نه دي ترسره شوي. |
| | | د بروشرونو او اعلاناتو د چاپ او خپرولو له لارې د عامه پوهاوي پروګرامونو شمیر. | ۴ | ۰ | ۰٪ | | | √ | | | |
| | | د صوتي او تصویري کلیپونو د خپرولو له لارې د عامه پوهاوي د پروګرامونو شمیر | ۱ | ۰ | ۰٪ | | | √ | | | |
| | | د جوماتونو او تکیه خانو له لارې د عامه پوهاوي د پروګرامونو شمیر | ۵۶ | ۳۵ | ٦۲٪ | | √ | | | | |
| ۱.۱۳ | د سیمه ایزو زده کړو، له ښوونځي څخه پاتې ماشومانو په مرکزونو او | د سواد حیاتی ښوونځیو د زده کوونکو شمېر | ۰ | ۰ | ۰٪ | | | | √ | | د پوهنې وزارت لخوا کلنی هدف نه دی راکول شوی چې |

| | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | حرفوي او حیاتي زده کړو په ښوونځیو کې د اړمنو او زده کړې څخه بې برخې خلکو له پاره د سواد، حرفوي، شغلي، سواد حیاتي او ژوند مهارتونو د زمینې برابرول؛ | | | | | | | | | | د هغې مطابق کړنې تر سره شي |
| ۱.۱۴ | راستنیدونکو او داخلي بې ځایه شویو لپاره چې د زده کړې څخه بې برخې پاتې د سواد زده کړو د زمینې برابرول؛ | د راستنیدونکو سواد زده کړو زده کوونکو شمیر | ۱۵۰ | ۰ | ۰٪ | | | √ | | | د راستنیدونکو له جملې تر اوسه چا مراجعه نه ده کړې |
| ۱.۱۵ | د سواد زده کړې په کورسونو کې د نالوستو کسانو جذبول؛ | د جذب شوو سواد زده کړو زده کوونکو شمیر | ۱, ۹۵۰ | ۱۳۷۵ | ۷۰٪ | | √ | | | | |
